# ورە بە شي!

(شعري تولگه)



Ketabton.com

نِزار قباني

ژباڕە: ویاڕ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ورځ به شي!

نِزار قباني

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ورځ به شي!**

نِزار قباني

ژباړه:وياړ

سمون:زيړ افغان

برېښنايي خپرېدنه: زمری ۱۴۰۴

خپرندويه: سيند خپرندويه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لیکلړ


ځو خبرې ........................................ ۱

د نِزار قباني اند ........................................ ۳

کاش په بل پېر وې راته ګرانه! ........................................ ۹

د مني مارغان راته ګران دي ........................................ ۱۱

د يو بافرهنګه سپي يادښتونه ........................................ ۱۳

له شعره څه ګټه؟ ........................................ ۱٤

ډبرويشتونکي ماشومان ........................................ ۱٥

د بلقيس په ويښتو کې دولس سره ګلان ........................................ ۱۷

دلته ولې څوک نه خاندي؟ ........................................ ۲٤

ورځ به شي! ........................................ ۲٦

له اباتمامه بخښنه ........................................ ۲۸

شعر پوښتنه کوي ........................................ ۳٥

مسافر ........................................ ۳۹

مينه او تېل ........................................ ٤٦

پوښتنه ........................................ ٥۲

مورِ په «ترهه‌ګرۍ» تورنوي!! ........................................ ٥۳

مينه بريالۍ ده ........................................ ٦٥

په بېره رهيدونکي ........................................ ۷۱

د تاريخ ښوونکی چا ووژو؟ ........................................ ۷۹

نړۍ په کليمو تسخيروم ........................................ ۸۷

(c) ketabton.com: The Digital Library


په دستګیرۍ کې مینه.................................................. ۸۸

مرغۍ او واکمن.................................................. ۹۰

د یو عرب جلاد ژوندلیک .................................................. ۹۲

بیروت سوځي، ته راته ګرانه یې! .................................................. ۱۰۵

اوربند .................................................. ۱۱۶

له کلیمې پرته.................................................. ۱۱۷

د رسامۍ درس .................................................. ۱۱۸

پر چا چې نه یې ګران، بې‌وطنه دی .................................................. ۱۲۳

لیکم.................................................. ۱۲۵

د شعر یاران.................................................. ۱۲۸

د ویر ماشومان .................................................. ۱۲۹

راته ګرانه یې! .................................................. ۱۳۰

ټول شیان مري.................................................. ۱۳۸

دا څرنګه وطن دی؟.................................................. ۱۴۰

آزادي.................................................. ۱۴۱

د شعر سور ګل .................................................. ۱۴۲

بې‌تا وژړېدم.................................................. ۱۴۳

یو بانګي .................................................. ۱۴۴

منفجرېدل... .................................................. ۱۴۷

وطنه .................................................. ۱۴۸

غواړم په غېږ کې دې ونیسمه .................................................. ۱۴۹

سویسي مرغۍ .................................................. ۱۵۰

غواړي ګډ شي په دریابونو .................................................. ۱۵۱

د وحشت نسلونه .................................................. ۱۵۲

وروستۍ کوتره .................................................. ۱۵۳

غواړم مین شم.................................................. ۱۵۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ښکلی ژوند**..................................................................................... ۱۵۵
**د جمعې خطبه** .................................................................................. ۱۵٦
**مړینه**............................................................................................. ۱٦۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څو خبرې

د سورېې مشهور شاعر، نِزار قباني د ۱۹۲۳ کال د مارچ په ۲۱ مه په دمشق کې وزیږېد.پلار یې یو زیارکښ کارګر و. قباني وایي «که وغواړم پلار مې په یوې طبقې کې شامل کړم، بې‌له شکه هغه یو زیارکښه و، څکه د ژوند پنځوس کاله یې د سکرو د بوي له استنشاق سره تېر کړل او د بورې بوجۍ او لرګینې دړې یې د سر بالښت و.»
نِزار قباني یو نومیالی معترض شاعر و، د واکمنو عربانو مریيتوب، شیطان صفتي او لوټماري یې په خپلو شعرونو کې بربنډوله:

**عربي نړۍ ټُورَه په ګرو ایښې**
**د لوي شرافت خبره هسې یو سراب دی**
**تویېږي تېل په خپلو خصیتینو کې**
**وایي رب لوی دی**
**د خلکو وینه زبېښل کېږي**
**څه له تېلو مخکې**
**څه له تېلو وروسته**
**یوه ډله تل چهارپایان**
**دا بله تل اربابان...**

په عربي ادبیاتو کې د قباني شعر د اهمیت له کبله مې په پام کې وه، ګڼ‌شمېر شعرونه یې پښتو ته وژباړم.خو له بده مرغه بوختیاوو د دې کار اجازه رانکړه؛ په همدې ټولګې مې بسنه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د يادونې وړ ده چې په دې ټولګه کې ځينې شعرونه بشپړ نه، بلکې هغه برخې يې ژباړل شوي، چې ما ته په زړه پورې وې، له همدې امله «د وير ماشومان» له شعر وروسته، عنوانونه ما انتخاب کړي دي.

د خپل ګران ملګري او استاد، زيرک افغان څخه د زړه له کومې مننندوی يم، چې د ژباړې په بډاينې او سمونې کې راسره مرسته کړی.

په مينه

وياړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د نِزار قباني اند*

■ که له ګډون موخه دا وي، چې د شعر ليکلو په وخت، ولس مې ګوتې خوځوي، دا سمه نه ده.که هدف مو دا وي چې د ولس ستونزې، اغېزې او تاثرات او د هغوی احساسول، د هغو آسونو په څېر، چې د باران ورېدو مخکې د ورښت پر بوي پوهېږي، نو بيا سمه ده.

■ زه غټې او وړې تجربې نلرم. هره وړه تجربه مې د ګردې نړۍ تجربه ده.کله چې له خپله ويره غړېږم، د ټول جهان وير په پام کې لرم.که ګمان کوئ چې د شاعر وړې تجربې له بله برزخه راځي، نو تېروتی يئ. ځکه شاعر د ټولنې او ټاټوبي، د تاريخ او کلتور، د روحي او جسمي ميراثونو برخه ده. هره کليمه چې ليکي، په خپلو څنډو کې ټول انسانيت رانغاړي.

■ له عشقي شعره سياسي شعر ته اوښتل، بې‌له شکه ګټوره سوداګري نه ده.د اغزنو سيمونو په پرتله د مېرمنو په لېمو کې بيدېدل، ډېره هوسا او له امنه ډکه ده؛ د عطرو سوداګري د سرکې له سوداګرۍ ګټوره ده. زموږ په هېوادونو کې هوښيار هغه دی، چې د سياست کوهي ته نه وردانګي.
د عشق هېواد تر ټولو نېکمرغه هېواد پاتې‌کېږي‌او ډاډه ووسئ، که قدرت مې درلودلی، چې‌د اوږدې مودې لپاره د عشق پر ټاټوبي خپله واکمني وساتم؛ د خپل عرش او رعيت د پاينښت او ننګې لپاره مې هر ډول امکانات لرل.

■په ټينګار وايم چې له هر څه ډېر سياسي شعرونو له پړي راځوړند او پر صليب وهلی يم. د عربو هېوادونو له نيمايي زيات واکمنان زما د سياسي شعرونو په اړه غليمانه ليد

---

* د نزار قبانی د اند په اړه دا لنډ مالومات له هغه اوږدې مرکې اخيستل شوي، چې ده د ۱۹۷۱ کال په اکتوبر کې له منيرالعکش سره تر سره کړې وه. پ.ژ

(c) ketabton.com: The Digital Library

لري، ما رټي او خپلو هېوادونو ته، په داسې حال کې زما د کتابونو مخه نيسي، چې د مېني شاعر په توګه يې نازول او په غېږ کې يې نيول. دا راته شوني وه چې د باطنيونو او ډارنو په څېر د تقيې له آره پيروي وکړم. خو ما په اور کې په بودايي توګه مړينه غوره کړه، ځکه ايمان لرم چې ليکل په خپله يو ډول شهادت دی او حقيقي شاعر هغه ځوک دی چې د خپلو کليمو په تورې وژل کېږي، څنګه چې سقراط او حلاج ووژل شول.

زه د شاعر په توګه همېشه خپله لاره د خنجر په تېره اړخ انتخابوم او ګمان کوم چې پر دې خوا بيدېدل، نه هوسا دی او نه هم د لېوالتيا او رغبت وړ. ما چې په کومه مينه تړې، هغه نه ده چې د ښځې د بدن جغرافيه يې محدودوي. زه په داسې تنګ مرمرين قبر کې مېشته کېدل نه منم. ښځه له لويو وچو يوه ده، چې هلته مې سفر کړی، خو ټوله نړۍ نه ده.

مينه مې په غېږه کې ټول ژوند رانغاړي، دا مينه په خاورو کې، په اوبو کې، د مبارزينو په ټپونو کې، د ماشومانو په سترګو کې، د زده کوونکو په اعتصابونو کې او د قهرجنو په قهر کې ځای لري. ښځه، زما د اوږده مزل له تمځايونو يو تمځای او له بندرونو يو بندر دی، چې يوه ورځ يې ماته اوبه او ډوډۍ، عود او وريښم راکړل، خو نور بندرونه هم شته، چې بېړۍ مې ځان ته راکاږي.

■ ښځه يوه ورځ زما په لاسو کې يو ګُل او د ګوتو مې يوه ګوتمه وه. هغه خوږ وير و، چې سر يې زما پر بالښت ايښودو، خو وروسته په يوې وژونکي تورې بدله شوه.ښځه زما لپاره د مالوچو مېنځ کې د طلا سکه، په حرمسرای کې منتظره وينځه او کومه مسافرخانه نه ده، چې بکسونه په کې کېږدم او ترې لاړ شم.

زه ښځه د انقلاب ټاټوبی او د آزادي بخښوونکو لاملونو يو لامل ګڼم. د مېرمنو مسئلې اوس د هغه آزادي بخښوونکو جګړو له مسئلو سره مرتبطې ګڼم، چې عربي نړۍ ورسره لاس او ګريوان ده. زه د دې لپاره ليکم، چې ښځه د خليفه‌ګانو له غاښونو او د قومي سرکرده‌ګانو له نوکانو وژغورم. له پخلنځي او دسترخان يې وژغورم او د عنتره او ابو زيد

(c) ketabton.com: The Digital Library

الهلالی* له تورو یې آزاده کړم.

■ د ژوند او هنر بریالی اړخ مې سیاسی ژوند دی، چې شعر او ښایسته فرهنګ یې راته بډایه کړی دی.

■ شعر د پاک‌سرشتو په لور درومي، څوک چې جامې ونلري، قصیده اغوندي. شعر اصلاً د انیشتین په خوا نه ورځي. کله چې شعر لولم، د هېڅا علمي معتبر سندونه او درجې، سالون ته په رادننه کېدو سره نه ګورم.
که انګېرئ چې له داسې یو ملت سره اخته یم، چې کم‌پوهه او کم‌کلتوره دی، نو د انقلاب په پیل کې روسان هم همداسې وو، خو دا د پوشکین او مایاکوفسکي د ژبې د نیمګړتیا لامل ونه‌ګرځېد.

■ عرب ملت زما جبر دی، دنده مې ده ورسره واوسم، شعر ورته ووایم او لیکل ورته وکړم. که په تمه پاتې شم، چې د ابوظبی کلتور هاروارډي کلتور شي، دا زما په اند د شعر، حقیقت او تاریخ په وړاندې توطئه ده. په سوډان کې لس زره کسان ما ته غوږ وو، د انګورو د تورو ګونګورو په شان د ونو له څانګو راځوړند وو، غوښتل دې وې باسم، ځکه جلابیې* یې پر تن وې؟!

---

* عنتره بن شداد له اسلام مخکې عربي شاعر و. هغه د عربستان په ټاپوزمې، نجد کې نژدې په ۵۲۵ زیږدېز کې وزیږېد او په ۶۰۸ کې مړ شو. عنتره د خپلو حماسي شعرونو او د خپلې معشوقې عبله له کبله مشهور و.

ابو زید هلالی د بنی هلال د قبیلي یو ولسي اتل او د عربو د ولسي حماسې، چې سیره هلاله نومېږي، اصلي شخصیت و. ابوزید په دې حماسې کې له نجد څخه د افریقا شمال ته د بنی هلال د مهاجرت داستان بیانوي. پ.ژ.

* جلابیه:غټې او پراخې جامې دي، چې پر کالیو اغوستل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو هغه روڼاندي، چې غواړی د شعر مخاطب وي، څوک دي؟ آیا ډاکټران، مهندسان، د بانکونو مدیران، د شرکتونو مالکان او د قراردادیانو په شان فارغ التحصیلان دي که وزیران، مدیران او کارکوونکي؟
د کتاب وېشنې شمېرې ثابتوي، چې پورته یاد کسان ان یو کتاب هم نه لولي او نه هم کتابتون ته ځي. د هغوی فرهنګي سطحه د ورځپاڼو او تلویزیوني سریالونو په سطحه ده.

■ له ما غواړئ، د سکرو په کان کې پاک پاتې شم او جامې مې خېرنې نکړم. رانه غواړئ، په داسې ټولنه کې سپېځلې پاتې شم، چې سپېڅلتیا نه پېژني. رانه غواړئ، مینه د اولیاو او قدیسانو او د کرامه اصحابو مرتبو ته ورسوم. دا زما د انسانیت پر ضد ده.
زه له هغه قبیلې راځم، چې له ښځو سره په نوکارو او چیچلو مینه کوي. د قبیلې له میراثه او د جاهلانه عشق له شریعته د خلاصون لپاره ډېرې مودې ته اړتیا ده.

■عربي انقلاب باید یوځای د فکر او جسم، د شکل او ماهیت بدلون په پام کې ونیسي.کوم انقلاب چې یوازې فکر په پام کې ونیسي، بې‌له دې چې جسم ته توجه وکړي، هغه انقلاب به نیمګړی وي. جسم اجرایي وزله ده او که د دې وزلې ګردښت سمبال نشي، پایله به یې هېڅ وي. د بېلګې په توګه د چین انقلاب د صیغې دود له مینځه ویوړ او دمګړی هېڅ پلار پر هېڅ هانګ کانګي مرییوال خپله لور نه پلوري. همدا ډول دې انقلاب د هغه رواج جرړې وچې کړې، چې د جینکو پښې به یې په اوسپنیزو قالبونو کې ایښودلی، چې له کوره ونه‌وځي. د چین د انقلاب معجزه په دې کې وه، چې په ټوله مانا یې له بودا او کنفوسیوس سره خپل تړاو پای ته ورساوه او مخکښانو یې دا ګړندي بدلونونه په خپلو رسمي آرونو بدل کړل؛ د همدې لپاره د نوي چین په شعور کې اجدادي اروا نوره ځای نلري.
خو زموږ انقلابونه له ټولو لاربنودیزه آزادي غوښتونکو شعارونو او له ټولو هغو مخکښو آرونو سره سره، د ډېر حساسیت او مذهبي جرړې له امله د جنسي مسئلې له حله ډډه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي او د همدې لپاره له ملنډيزو تضادونو سره مخ کېږي....
له مارکس څخه غرېږو، خو بيا هم له تورې ږيرې او زرغونې چپنې سره يو بدوي راځي، حرز او تعويذ مو غاړې ته اچوي او خپل کرامات را زده کوي!!!

■ د ښکېلاک نقشه دا وه، چې هند د خوراکي مسالو او طبي بوټو، مصر د مالوچو، سيلان د چايو او چين د وريجو او اپيومو توليدونکي پاتې شي...که ونشو کړای له چوپاني ټولنې، کمپيوټرې ټولنې ته واوړو، جنرال موټورز او وال سټريټ او د راکفلر او فورډ کورنۍ به تر اجله راباندې واکمنې پاتې شي.

■ زما په اند د عربي انسان د بشپړې جغرافيې بدلون او بياجوړېدنې ته انقلاب وايي. عربي عقل کړکيچن دی، ځکه له عمله او اغېزې پاتې دی. هغه دړې ته ورته دی چې په کوفي خط ليکل شوې او له ځانه بېزاره ده. د عربو انقلابيانو دنده ده چې پر نوي کاغذ ببخي نوي څه وليکي، ځکه پخوانی کلام د خپلو ټولو دلالتونو او رموزو څخه جلا شوی دی.
خو له کومه يې پيلوو؟
له پيريانو يې پيلوو که له ماشومانو، له بې‌فکره فکرونو که له بې‌شکله شکلونو، له هغو پاک‌ذاتو، چې لا زموږ په موعظو او منقولو اقوالو زهرجن شوي نه دي، له هغو ټولو بې‌گناهانو يې پيلوو، چې کوپړې يې لا بنه موندلې نه ده او ملاگانې يې لا محدبې شوې نه دي؟
پر انقلابي فکر ده، چې د خپل نوم وړتيا وموميي او د بولدوزر د پله په شان د دې سيمې هغه ويجاړې پاکې کړي، هغه ډېرې شوې خځلې وغورځوي، چې د انحطاط له پېرونو راپاتې دي.

■انقلابي ليکنې، انقلابي انسانان پنځوي. ليکنه او انقلاب سره لازم او ملزوم دي. که په دې سيمه کې د هر انقلابي نظام اصلي موضوع عربي انسان وي، نو د مخاطبولو لپاره يې بايد نوې بنه رامينځته کړو...

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ټولو انقلابونو، چې لمبې وهي او يا به يې په راتلونکی کې لمبې پورته شي، دنده ده چې ليکوالان د انقلاب برخه وګڼي او د بدلون لپاره يې ياران او شريکان وشمېري. د انقلاب او ليکوالۍ تر مينځ هر ډول ټکر، چې اوس په ځينو عربي انقلابي نظامونو کې ليدل کېږي، د دواړو هممهاله مرګ له ځان سره لري.

■ شعر يوازې يوه طبقه لري، چې ورته غوړ ږدي، لولي او ورڅخه اغېزمن کېږي. شعر هغه اورګاډی نه دی، چې «فرسټ کلاس» يې له دويم، دريم او نورو بېل وي. ټول هغه کسان، چې د شعر په اورګاډی کې مزل کوي، يو شان څوکۍ او يو ډول امتياز لري.

زه، هر چېرې چې وي او هر ډول چې وي، د يو شاعر په توګه د شعري پرولتاريا په کتار کې ودرېږم، يانې د ولس په کتار کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## کاش په بل پېر وې راته ګرانه!

کاش!
په بل پېر وې راته ګرانه
په لاشاعرانه پېر کې
په لامهربانه پېر کې
په هغه پېر کې،
چې د نهیلۍ له عطره
د کتاب عطر
د ازادۍ عطر
ډېر
احساسېده.

کاش!
د شمعې په پېر کې وې راته ګرانه
د لرګیو، د اسپانیوي راشپېلونو په پېر کې
په هغه پېر کې چې خطونه په بڼکو لیکل کېدل
د رنګارنګو اوبدل شویو کمیسونو په پېر کې
نه د ډیسکو په پېر کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه د **فراري** موټرو په پېر کې
نه د **جين پطلونونو** په پېر کې.

کاش!
په بل پېر مې ليدلې وې ته
په هغه پېر کې،
چې مرغۍ، هيلۍ، د سيند پريانې واکمنې وای
د انځورګرانو په پېر کې
د موسيقيپوهانو په پېر کې
د مينيانو
شاعرانو
ماشومانو
د لېونو په پېر کې!

کاش!
په هغه پېر راسره وای ته
چې پر ګل و شعر و شپيلي و ښځې ستم نه وای!
خو افسوس
ناوخته شو
د مينې ګل په داسې پېر لټوو،
چې له ميني سره آشنا نه دی!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د مني مارغان راته ګران دي

کله نا کله ورکېدل غواړم
د مني د مارغانو په شان
غواړم یو وطن ومومم
نوې وطن
پرته له ټاټوبه
پرته له خدایه،
چې نه مې ښاري
داسې ټاټوبی،
چې دښمني نه پالي.

کله ناکله تښتېدل غواړم
له خپل پوستکي
له خپله آوازه
له خپلې ژبې
غواړم وتښتم
د باغونو د وږمې په شان
غواړم وتښتم
له خپله سیورې
له خپلې نښې
غواړم وتښتم

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خرافاتو، د مارانو له ختيځه
د خلفاؤو، د پاچايانو له ختيځه

غواړم مينه وکړم
د مني د مارغانو په شان
ای د چړو ختيځه،
ای د زندۍ ختيځه
ای اميرانو، ای پاچايانو
غواړم مينه وکړم
د مني د مارغانو په شان.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د يو بافرهنگه سپي يادښتونه

اربابه!
نه زر غواړم، نه حرير، نه ياقوت
نه ورېښم، نه اطلس
غواړم، خبرې مې واروې
په شعرونو کې پنځوم
د عربانو کرکه
د عربانو کريکه!

اربابه!
که شعر دې نه خوښېږي
که غزل دې نه خوښېږي
جلاد ته ووايه
پرېږدي
پرېږدي
آزاد
وغاپم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## له شعره څه ګټه؟

له شعره څه ګټه
که پاځون اعلامولی نشي؟
که بلوسګران نابودولی نشي؟

له شعره څه ګټه
چې اړتیا یې لرو
اورشیندونکي بلوا ته لمسولی نشي؟

له شعره څه ګټه
که د زورواکو شاهانو له سره
تاجونه اخیستلی نشي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ډبرویشتونکي ماشومان

نړۍ يې حيرانه کړې،
په لاسونو کې يې ډبرې
ډيوه يې روښانه کړې په تروږمه کې
زړې ورکوي
مقاومت کوي
منفجرېږي د بم په شان،
شهيدان دي
خو موږ د قطبي يږو په شان
چې پوستکې يې د يخنۍ په وړاندې
کلک شوی
لا کنګل يوو.

زموږ پر ځای جنګېږي،
په ځمکه ولوېږي
موږ بېغمه ناست قهوه خانو کې
قهوه څښو په مزو کې
دا يو لالهانده سوداګرۍ کې
دا بل د ميلياردو ډالرو په تمه
هغه بل د مرمرينو سينو په لټه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ځلورم واده په هڅه
هغه یو په لندن کې ګرځي
اسمانڅکو ماڼیو پسې
دا بل سرګردانه د وسلو سوداګرۍ پسې
یو ډیسکو کې اخلي غچ له سیاله
دا بل د حکومت د تاج و تخت
په لټه.

آه...
د خیانتونو نسله
د پیسه‌پالنې نسله
بېکاره نسله
هرځايي نسله
که تاریخ څومره هم پخ ودرومي
یو ورځ به ډبرویشتونکي ماشومان
پر تاسې جوړ کړي
د لغتو باران.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د بلقیس* په ویښتو کې دولس سره ګلان

**۱**

پوهېده چې ما به ووژني
پوهېدم چې هغه به ووژل شي
وړاندوینې وختلې دواړه سمې
هغه د پتنګې په شان
د جهالت د پېر پر ویجاړو ولېده
او زه د هغه عصر د غاښو تر مینځ،
چې شعر
د ښځې سترګې
او سور ګل د آزادۍ
له ستونې تېروي
دړې وړې شوم.

---

*بلقیس الراوي د نزار قباني مېرمن وه. هغه د ۱۹۸۱ کال د دسمبر د پنځلسمې نیټې په انتحاري برید کې، چې په بیروت کې د عراق پر سفارت تر سره شو، له ٦١ نورو کسانو سره ووژل شوه. دا برید الدعوه اسلامي ډلې، چې د ایران د آخوندي رژیم ننګه یې له ځان سره لرله ، تر سره کړ. پ.ژ

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲

پوهېدم،
چې وبه‌وژل شي
د خچنتیا په پېر کې ښایسته وه
د کرغېړنتیا په پېر کې رڼه وه
د انسان وژونکو په پېر کې انسانه
د شینکۍ په مینځ کې نایابه لعله
د بې شمېره مصنوعي ښځو په مینځ کې اصیله!

۳

پوهېدم،
چې وبه‌وژل شي
ځکه روښانه یې وې سترګې
د یاقوت د دوه سیندونو په څېر
ویښته یې اوږده
د بغداد د شپو په څېر
دې ټاټوبي
دې ټولې زرغونتیا
د زرګونو خرماوو انځورونو
د بلقیس په لیمو کې
تاب
رانه وړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴

پوهېدم،
چې وبه‌وژل شي
ځکه د غرور لوربنود يې
د ټاپوزمې له لوربنوده و خورا لوی
پرتم،
پرې نښوه،
چې د انحطاط په عصر کې ژوند وکړي
ځلانده اروا يې پرې نښوه،
چې په ترږمو کې ژوند وکړي.

۵

هسک غرور يې
نړۍ کوچنې کړې وه
بکس يې وتاړه
ورو ورو
د پېښو د ګوتو په څوکو،
بې‌له کومې خبرې يې
نړۍ پرېښوده.

٦

نه ډارېده
چې مورنی ټاتوبی يې ووژني
ډار يې دا و،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې مورنۍ ټاټوبۍ يې ځان ووژني!

**۷**

زما پر کتابچو يې
د شعر د بډايه وربځو په څېر
شراب
ګبين
توتکۍ
سره ياقوت
وبهول
زما پر احساس يې
بادبانونه
مرغان
او له نهيلۍ ډکې شپې
وشيندل

له تللو وروسته يې
د اوبو دوران پای ته ورسېد
او د تندې دوران پيل شو.

**۸**

همېش مې احساسوله
د تګ په حال
چمتو يې په سترګو کې وو بادبانونه
د تللو په حال

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر بڼو يې روانه وه الوتکه د هسکېدو په حال
په لاسي بکس کې يې
زموږ د واده په لومړنۍ ورځ
پاسپورت
د الوتکې ټکټ
او ويزې د هغو ټاټوبو،
چې ليدلي نه وو
يوه ورځ مې وپوښتله،
په دې کاغذونو کوې څه؟
ويې ويل:
له سرې زرغونې سره ديدار لرم.

**۹**

کله چې د کنډوالو له مينځه
بکس يې ورله راکړ
ما يې
پاسپورت
د الوتکې ټکټونه
او ويزې وليدلې
پوه شوم،
چې ما له بلقيس الراوي سره واده کړی نه و
زه د سرې زرغونې مېړه وم...

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۱۰**

کله چې ښایسته ښځه مري
ځمکه خپل تعادل له لاسه ورکوي
سپوږمۍ سل کلن عمومي وير اعلاموي
او شعر بې‌کاره کېږي!

**۱۱**

بلقيس‌الراوی
بلقيس‌الراوی
بلقيس‌الراوي
د نوم آهنگ يې په ما و گران
د شونډو په سر مې په کراتو تکراراوه
د نامه په ځنگ کې يې
غبرگول د خپل نامه سخت ډارولم
لکه د رڼې ويالې خړول
يا د يوه ښايسته سمفوني گډوډول.

**۱۲**

دې ښځې
نبايد ډېر ژوند کړی وای
دې پخپله هم نه غوښتل
هغه،
د شمعې د يوې لمبې په څېر وه
د بلينډې د يوې شغلې په څېر وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یوې شاعرانه شېبې په خېر،
چې د وروستۍ کربښې دمخه
انفجار کوي....

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دلته ولې څوک نه خاندي؟

گرانه!
چې په سترګو کې دې
وير، غربت او تراژيدي وينم
مور، هغه هېواد يوو،
چې په ښادۍ نه پوهېږو!
ماشومانو مو لا
د بوډۍ ټال ليدلی نه دی
هغه هېواد،
چې دروازې يې تړلي
اند او احساس يې لغوه کړي!

هغه هېواد،
چې په کوترو کوي ډزې
په وريځو، په جرسو کوي ډزې
دلته مارغان د الوتلو پروا نلري
شاعر د شعر ويلو ډار نلري!
هغه هېواد،
چې د تللو لار نلري
ان مچ له الوتلو ډارېږي
د شعر شپه دلته نه جوړېږي!

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه هېواد،
چې نيمايي يې پنډغالی
نيمايي نور يې ساتونکي
مړو يې کړی واده
د يو بل له مېرمنو سره
مالومه نه ده
خلک يې چېرې رهيدلي!

زېړسرې فرانسوی سپلانی راته وايي
ستاسې هېواد ډېر ښايسته دی،
چې تر اوسه ما ليدلی
دلته،
باران خاندي
ګلان خاندي
الوچې خاندي
انار خاندي
ياسمن راځوړند له دېوالونو
خو دلته ولې څوک نه خاندي؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ورځ به شي!

ورځ به شي
ته به راته ګرانه يې
ورځ به شي
اندېښنه مه کوه،
چې پسرلی دی ځنډېدلی
وېرجنه مه اوسه
که باران دی ودرېدلی
رنګ به بدل شي حتماً د اسمان
سپوږمۍ به راستانه شي خپل مدار ته.

ورځ به شي
ورځ به شي
هغه ورځ به پوه شم،
چې تمدن ولې ښځينه دی
شعر ولې ښځينه دی
عاشقانه ليکونه ولې ښځينه دي
ښځې چې میینېږي
ولې په مرغۍ
په رڼا
په اور
بدلېږي!

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورځ به شي
د بدويت جامې ګوځارم،
چې زده کړم آر د خبرو اترو!
ورځ به شي
هغه ورځ به
د انحطاط دوره خوشې کوم
تا ته به ښکلي کليمات ليکم
د کليمو له بريدونو به تېرېږم
د کلام شيشه به ماتوم!

ورځ به شي
هغه ورځ احساسات مې رهبري کوم
د غرور سر مې پرې کوم
د قبيله ای تعصب ميراث له دننه پرېمنځم
د پاچايانو پر ضد بلوا کوم.

ورځ به شي
سرتېري مې رخصتوم
آسونه مې خوشې کوم
فتوحاتو ته مې د پای ټکی ږدم
خلکو ته برالا وايم:
ستا د سترګو ساحل ته رسېدل
څه لويه بريا ده!

(c) ketabton.com: The Digital Library

**له اباتمامه* بخښنه**

**۱**

گرانو شاعرانو
که راټولېږو چې جوړې کړو کوکې
چې وېرجن لاوېرجنوي
لاملالوي
که يوازې د شعر ترنم
د شاعرانو يوځاې کېدل،
جلا کېدل دي
که تويوي شراب مو په خوله کې
چې مست او نشئه مو کړي
ومورژوي د خزان د پاڼو په شان
نو زه معذرت غواړم!

---

* اباتمام (حبيب بن اوس الطائی) د عباسيانو په دوران کې يو مشهور عرب شاعر و. هغه په شعر کې د نوښځانده، خلاقانه او تازه او پيچېلی انځورو د کارولو له امله مشهور و. پ.ژ

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۲**

گرانو شاعرانو
که نخېړو د تل په شان بېپښو
که ویناوې کوو د تل په شان بېغاښو
که باورمن یوو د تل په شان بېایمانه
که په دار وهو د خپلو قړتو پړتو په پړي
هر څوک چې رانوځي تالار ته
نو زه مې ټولوم ټولې پاڼې
او معذرت غواړم!

**۳**

گرانو شاعرانو
که تر قیامته اخته په جنجال یوو
د **همزه**لیکلنې پر سر
که تر قیامته ترنگیلي یوو
د **عمرو بن کلثوم*** د قصیدې پر سر
که غواړو هماغه تکراري شعرونه په کراتو ولولو

---

*عمرو بن کلثوم له اسلام مخکې یو عرب شاعر و، چې د حماسي شعر ویلو لپاره یې شهرت درلود. پ.ژ

(c) ketabton.com: The Digital Library

که غواړو بیا بیا د **نصب** و **جر** حرفونه وژیوو*
که غواړو بیا دروغ ووایو
که غواړو بیا خلک دوکه کړو
که غواړو بیا تندر د برېښنا جوړ کړو،
بې له دې چې باران ووریږي
نو زه مې ټولوم ټولې پاڼې
او معذرت غواړم!

**۴**

ګرانو شاعرانو
که له یو بل سره راټولېږو
چې شراب وڅښوو
چې مست شوو
چې څملو د ریحان و عنبر پرکټونو
که ګمان کوئ چې شعر اجاره شوې نڅاګره
د جشنونو ده
یا د ویر، د زیږون د مراسمو کرایه شوې
یا د **زیر** او **عنتره**** د خبرو تکرار

---

*نصب حروف هغه یو دي، چې مضارع فعل منصوبوي. یانې د مضارع فعل د اعراب علامت بدلوي او جر حروف هغه یو دي، چې له ځانه وروسته نوم ته کسره ورکوي، یانې هماغه اضافه حرف ته ویل کېږي. پ.ژ

** الزیر سالم او عنتره بن شداد دواړه له اسلام وړاندې د عرب اوڅارې ادبي او حماسي څېرې وې. پ.ژ

(c) ketabton.com: The Digital Library

که  گمان کوئ
د شعر یوازینۍ اندېښنه
د قیصر د معشوقې سرگرمول دي
د مانۍ ټولو ساتونکو، سرتېرو ته رشوت ورکول دي
که گمان کوئ چې د **حجاج** د خطبې غلا کول دي
په خپله د **حجاج** او د منبر غلا کول دي
که وژنو یو بل چې پوه شوو
ځوک دی تر ټولو زبردست شاعر
نو بیا مو تر ټولو لوی شاعر
خنجر دی.

**۵**

ای **اباتمامه**
چېرې یې؟
عطرجنې ویناوې دې چېرې دي؟
چېرې دی هغه لاس،
چې په ناپېژاندو کې کړې سفر
کړې نوې پنځونې

ای **اباتمامه،**
قصیدې مو کونډې شوې
لیکنې مو کونډې شوې
کلیمې،انځورونه مو کونډې شوې
نه مو پر کتابچو بهېږي اوبه

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه مو پر ببړیو لګېږي بادونه
نه لمر شته، نه سپوږمۍ

ای **اباتمامه**،
شعر پر ځان راځرخېدلی
کلیمې، د لغتونو قاموس لمسېدلی
کلیوال، ښاریان لمسېدلي
سیند له خپله رنګه سترې شوی
ونې له خپله تنې ستومانه شوي
موږ دلته
د اصحاب کهف په شان
ناپوه، بېخبره
نه مو انقلابیانو انقلاب کړی
نه مو شاعرانو شعر ویلی

ای **اباتمامه**
زمونږ شعرونه مه لوله
ټولې مانۍ مو کاغذي
ټولې اوښکې مو ډبرې

**٦**

**ای اباتمامه**
شعر په خپلې ژورتیا کې دی یو سفر
د راتلونکي په لور دی یو ماڼو

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه کشف دی، چې نه پاتې کېږي په انتظار
خو موږ بدل کړی د واده د جشن په شان په یو شي
د هغه دربېدلي بادي برنجي سازونو د ریتم په شان په یو شي
ته وایې ګواکې
همدا یې برخلیک دی

**۷**

ای د کلیمو امیره
وبخښه چې موږ ټولو له کلیمو سره کړی خیانت دی
په **تشطیر**، **تربیع**، **تخمیس** او **توصیف** مو ستړي کړي
ای **اباتمامه**
اور مو سوځي
خو لا اخته یوو موږ په شخړو له یو بل سره
د **مصروف** و **ممنوع الصرف** په اړه
نیواکګر پوځ هم
ممنوع الصرف دی!!

لا مو لینګي رپوو
ناست په انتظار په مسجدونو کې
چې راشي امام علي یا عمر
خو یو به هم رانشي
رابه نشي
بې‌له خپلې تورې
څوک بریا ته رسیدلی نه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۸**

**ای اباتمامه**

پر شعر نلري ایمان نور خلک
پر شاعرانو نلري ایمان نور خلک
ته ووایه ای شاعره
کله چې شعر زېږي
ولې په چاړه نه وژني
ځان نور؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شعر پوښتنه کوي

سره له ټولو جلادانو،
چې غوځوي سرونه
خوشحال يم چې له شعرونو مې ډارېږئ
نېکمرغه يم چې د رنګونو له څاڅکو وېرېږئ
د کاغذونو له خش‌خشه رپېږئ!

ای واکمنو،
چې له کليمې وېرېږئ
له ترانې ډارېږئ
له خلاقه شاعره رپېږئ
ای واکمنو،
چې په خپل واک ډارېږئ
د ګلونو له وږمې بېرېږئ
د زردالانو له بويه وېرېږئ
ای واکمنو،
چې ورکوئ پوځيانو ته فرمانونه
چې بندکړي
توروتمبو شاته
شوقونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوشالېږم چې سپي مو خوشې کوئ
دروازې مو تړئ
په خپلو ښځو ډاربږئ،
چې بندې نشي د مينې په لومه د پاچايانو

خوشالېږم چې کتابونه مې قتل‌عاموئ
شعرونه مې ذبحه کوئ
خو جسد به مې شي بدل
په بارګاه يوه ورځ
په زيارت د مينانو د ورتګ يوه ورځ

هيڅوک نشي کولای آسونه ايسار له شنېدلو کړي
مرغۍ بندې د نويو ټاټوبو له موندلو کړي
وبه‌وژنئ ليکوالان
خو ليکل وژلی نشئ
وبه‌وژنئ سندرغاړي
خو آواز وژلی نشئ
په دې سيالۍ کې يوازې کليمې بريالۍ دي.

يوه کوټه
يوه حرمسرا
نهه نوي ښځې مو راغونډې کړي
هر څه دي برابر:
نکاح‌خط

(c) ketabton.com: The Digital Library

طلاق‌خط

شراب په جامونو کې
سترګې مو سرې د نغري د سکروټو په شان
خو د اخلاقي ارزښتونو لپاره
تل مو منعه کړي زما اشعارا!!!

په تمه راله واوسئ،
بې خبره راځم
د **مهدی** یا **بُراق** په شان
سترګې په لار راله واوسئ،
د پېژندو مې اړتیا نشته
خلک به راځوړند کړي پر دېوالو
د پاچا د عکسو پر ځای
عکسونه زما.

راله منتظر واوسئ ای دلالانو،
چې ودان کړي مو د تېلو له پیسو دي
د نفاق اهرمونه
شعر و نثر مو راته بدل کړ
د ارتزاق دي دکانونه!
سترګې په لار راله واوسئ،
چې شعر:
د ولس د تندي له خولو
د ډوډۍ له بخرو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ځپلو له ګرنګونو
له ژورو راپورته شویو زلزلو
د بهر په لور تل پنځول کېږي.

ای واکمنو،
هر څومره که لوړ کړئ
دېوالونه
بنده به نکړای شئ
د لمر څریکېدنه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مسافر

سپاره د وير په بېړۍ
رهبر مو يو مزدور
شيخ مو غل د دريابو
بېوطنه
څارل شوي
د مرغيو په څېر د مهال پر نقشې
بېاسناده مسافر يوو
بېکفنه مړي.

موږ د عصر بدلمنې
پلوري مو
پيسې اخلي واکمنان
موږ د ماهيو مينځې
له کوټې نه کوټې ته
له غېږې نه غېږې ته
له مالک نه مالک ته
له بُت نه بُت ته
هر شپه منډې په څېر د سپيانو
له **عدنه** تر **طنجه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

له **طنجه** تر **عدنه**

په لټون د قبیلې،

چې راووایي هرکلی

د پردې په لټه د پټېدو

د سرپناه په لټه د مېشتېدو

------

شاوخوا مو دي اولادونه

ملاګانې يې دي کړوپې

لټوي په زړو قاموسو کې

بې‌ساری یو جنت

بې‌ساری یو غټ دروغ

د وطن په نامه

یو دروغ.

------

دېره یوو د ژړا په ښار

قهوه مو د کربلا وینې

غوښه مو ګډه د کربلا په غوښه

خواړه

ځنباک

عادتونه

بیرغونه

ګلونه

قبرونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوستکی
مو لري مُهر د کربلا
څوک مو نه پېژني په دې بيديا
نه اوښ، نه ونه د خرما
نه تېږه، نه ميخ
نه هندي، نه عفرايي
پاڼې مو شکمنې
فکرونه مو جالبه
نومونه مو نه دي نومونو ته ورته
نه مو پېژني
هغوی چې تيل څکي
نه مو پېژني،
چې اوښکې څکي
رنځ څکي.

------

بنديان يوو د هغو متنونو،
چې واکمنان يې ليکي
بنديان يوو د هغه دينونو،
چې ملايان يې تفسيروي
بنديان يوو دننه د غمونو،
غمونه مو دی خوندور له هرڅه په تنونو
ښاري مو په قهوه خانو کې
ښاري مو په کورو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځاري مو ان
د ميندو په نسو کې!!

په انتظار دی هر چېرې
يو مخفي جاسوس
له قهوی مو څکي
پر تخت مو بيدېږي
په ليکونو کې مو گوتې وهي
کاغذونه مو لټوي
په پزه مو ننوځي
په ټوخي سره مو راوځي
ژبې مو پرې شوي
سرونه مو پرې شوي
ډوډۍ مو له ډار،
له اوښکو سره لمده شوې
که اعتراض وکړو د سيمې ساتونکې ته
راته وايي:اعتراض ممنوع
که تضرع وکړو د اسمانو خدای ته
راته وايي: تضرع ممنوع
که نارې د مرستې وکړو د الله رسول ته
راکوي نه ستنېدونکي ويزې موږ ته
که د وروستې قصيدې لپاره
يا د وروستي وصيت لپاره
مخکې له دې چې راځوړند شوو له داره

(c) ketabton.com: The Digital Library

وغواړو قلم د ليکلو لپاره
موضوع بدله کړي د دې لپاره.

-----

اى وطنه
چې د کرکې پر دېوال يې صليب کړی
اى د اور غونډسکې
چې د ګړنګونو په لور يې رهي کړی
پيدا نه شول څوک
نه له **مضر** نه له **ثقيف** قبيلې
چې په وينه لت پت دې وطن ته
نذرانه يو جام له خپلو وينو کړي
يا ورکړي خپلې يو بوتل شريفې ميتيازې
يا  له دې خيرې خيرې عبا
چا درنکړه يوه ورځ
يوه خولۍ
يوه چپنه ډالۍ

اى وطنه،
چې د خزان د وښو په شان يې مړاوی
شکېدلي يوو موږ د ونو په شان له خپلو زېلو
له خپلو هيلو، يادونو آواره شوي يوو
ډارېږي سترګې مو له خپلو اوازونو
واکمن مو دي هغه خدايان

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې بهېږي شنه وينه يې په رګو کې
موږ د کنيزانو نسل
نه مو پېژني د **حجاز** مشران
نه مو پېژني د صحرا عاميان
نه مو **ابوالطيب** مني نه مو **ابوالعتاهيه**
که ځي رانه يو جلاد
سپاري مو په بل جلاد

**-------**

د ستړيا د بندرونو مهاجر
د بيروت له سينده د عرب تر سينده
نه مو غواړي څوک
نه **فاطميون**، نه **قرمطيان**
نه **مملوکيان**، نه **برامکيان**
نه شيطانان، نه ملايکې
نه مو غواړي څوک
په مالګينو ښارو کې،
چې پرې کوي هرکال
د ميليونو کتابونو سرونه
په هغه ښارونو کې،
چې دولتي استخبارات يې کوي
د ادبياتو لارښوونه
نه مو غواړي څوک

**----**

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپاره د وير په ببړۍ
رهبر مو يو مزدور
شيخ مو غل د دريابو
لکه موږکان په قفسونو کې بنديان
نه مو مني کوم بندر
نه مو مني کومه مېکده
پاسپورتونه مو ټول راصادر کړي شيطان
ليکنې چې کاږو
خوښې نه دي ټولې د سلطان
-----
له زمانه يوو بهر مسافر
له مکانه يوو بهر مسافر
پيسې ورکې، شتمني ورکه
اولاد ورک، نوم ورک
پېژاند ورک، د امنيت حس ورک
نه مو **بنی هاشم** پېژني، نه **بنی قحطان**
نه مو **بنی ربيعه** پېژني، نه **بنی شيبان**
نه مو د **لنين** پېروان پېژني، نه د **ريګان**
ای وطنه،
ټول مرغان دي په خپله ځاله
چې حرفه يې ده آزادي
مري دباندې له وطنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مینه او تېل

**۱**

ته به څه وختې پوهېږې؟
ته به څه وختې پوهېږې؟
راله ووایه ښاغلیه؟
زه د هغو جینکو په کتار کې نه یم،
چې ستا محبوبې دي
نه ښځینه فتحه یم،
چې ورسیوا مې پر خپلو فتحوحاتو کړې
نه کومه شمېره یم،
چې ورزیاته مې پر خپلو دوسیو کړې
ته به څه وختې پوهېږې ښاغلیه؟

**۲**

ته به څه وختې پوهېږې؟
ای اوښه،
چې تر اوسه په بیدیا کې
اوسار تړلی نه دی ستا په پزه چا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځېره دي،
لاسونه دي
همېش
د خیرو،
د ټناکو لاندې پټ
ته به څه وختې پوهېږی؟
چې زه به نوره ستا په لاسو کې
د سګرټو ایره نه یم.

ته به څه وختې پوهېږی؟
چې پر بالښت به دې
له زرګونو سرونو یو سر نه یم
ته به څه وختې پوهېږی؟
چې ستا د لیلام
مجسمه به نه یم
ته به څه وختې پوهېږی؟
چې پر سینه به مې نه وي ستا نوکارې
ته به څه وختې پوهېږی؟

**۳**

ته به څه وختې پوهېږی؟
چې ما به نشې کړای بې‌حسه
امارت به دې نشي کړای ما بې‌سده
ته به څه وختې پوهېږی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې سره له تېلو
سره له ټولو امتیازاتو
سره له هغو تېلو،
همرنگه ستا د چپنې
سره له هغه بې شمېره موټرونو،
چې گڼو معشوقو له ډالۍ دي
ته به د نړۍ څښتن نشی.

څه شول ستا هغه مشهوره د اوښانو بازارونه؟
څه شول ستا پر لاسونو هغه خالونه؟
څه شول ستا د کېږدۍ سوري؟
څه شول ستا د پښو د تل چاودونه؟
څه شول ای منفعله؟
څه شول ای د خواهشاتو مرییه؟

اوس دې عقشبازي د صفتونو شرحه
لس‌ها ښځې سر په سر
د لذت پر بړستن انباروی
د یوه مړه حیوان جسد په څېر
له دېوال یې راځړوی
ته به څه وختې پوهېږی ښاغلیه؟

**۴**

ته به څه وختې پوهېږی؟
ای خېټوره

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه هغه نه یم،
چې له اوره دې وډارېږم
لېواله ستا د جنت شم
لوړ مې دی عزت
باوقاره له سرو زرو،
چې ته یې لری په لاسو
ته به څه وختې پوهېږی؟

زما فکر دی جلا
ستا د فکر له فضا
ای چې خانواکۍ دې
په سلول سلول کې وهلي جرړې
ای چې بیدیا سخته شرمنده ده،
چې تا ته ده منسوبه
ته به څه وختې پوهېږی ښاغلیه؟!

## ۵

ای د تېلو امیره
د خپلو هوسونو په چقړو کې ورغړه
ورغړه، لکه پر کاشیانو رغړېدنه
ورغړه د گمراهۍ په لوگیو کې ورغړه
ته تېل لری تېل
د خپلو معشوقو پر پښنو یې ومښه
ای د تېلو امیره

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پاريس کې دې ليدلي نايټ کلبونه
وژلي يې ستا په ذات کې رحمونه
وژلي يې ستا مېړانه مهرباني
د بدلني ښځې په پښو کې دې
ښخ کړی غچ تر خاورې لاندې
په وړيا دې ورکړ **قدس**
په وړيا دې ورکړ خدای
په وړيا دې ورکړې ان د مړو ايرې...
تا له سره هېر کړي،
چې د اسرائيلو په جګړه کې
جنينونه په خاوره ولېدل
تا خو له سره هېر کړي،
چې ځومره ودانۍ ړنګې
پر سرو شوې
تا خو له سره هېر کړي،
چې ځومره قرآنونه سوځېدلي
په اور کې
تا خو له سره هېر کړي،
چې رپولې يې خپله جنډه
د هېواد د ځيري بېرغ پر ځای ده
تا خو له سره هېر کړي،
چې په **حيفا** و په **يافا** و **بئرالسبع** کې
هره ونه صليب شوې د خلکو لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغو لپاره چې تا هېر کړي له سره
چې وو ستا له نسله

**قدس** دې په وینو ډوب
خو ته ډوب په شهوتو کې
داسې آرامه بیده یې
ګنې دې ناورین له تا سره څه تړاو نه درلود
ته به څه وختې پوهېږې؟
کله به دې په ذات کې انسان راویښېږي؟
ته به څه وختې پوهېږې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پوښتنه

ما مه پوښته،
چې څنګه یم؟
که رښتیا یم درله ګران...
رانه وپوښته:
ګوتې دې څنګه دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## موږ په «ترهه‌ګرۍ» تورنوي!!

موږ په «ترهه‌ګرۍ» تورنوي
که دفاع وکړو د ګل له بويه
که دفاع وکړو د ښځې له خوشبويه
که دفاع وکړو له بې‌ګناه قصيدې

موږ په «ترهه‌ګرۍ» تورنوي
که دفاع وکړو له شنه اسمانه
له هغه هېواده،
چې په کې څه پاتې نه دي
نه هوا، نه اوبه
نه کېږدۍ، نه اوښان
نه توره يوه قهوه...

موږ په «ترهه‌ګرۍ» تورنوي
که دفاع وکړو په مېړانه
د **بلقيس** له زلفانو
د **ميسون** له لبانو
له **هنده**

(c) ketabton.com: The Digital Library

له **رغده**

له **لبنی**

له **ربابه**

که دفاع وکړو

د الهام په بڼه چې راوریږي له بڼو

د رانجو له بارانه!

له ما سره به و نه مومئ

محرمانه شعرونه

محرمانه ژبه

یا محرمانه کتابونه،

چې بندیوان یې د دروازې تر شا کړم!

ان یوه قصیده نلرم،

چې روانه محجوبه وي

په واټو کې...

موږ په «ترهه‌گرۍ» تورنوي

که د خپل هېواد له پاتې‌شونو ولیکو

ناتوانه،

شیندلي،

ړنګېدلي

چې غړي یې وراسته

پاشېدلي

له هغه هېواده چې پېژاند لټوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

له هغه بې‌نومه پرګنو
له هغه هېواده،
چې له تېرو بډایه شعرونو یې
پاتې نور څه نه دي
د **خنساء*** له قصیدو پرته
له هغه هېواده،
چې د اسمان په لمن یې
سره، شنه یا زېړه آزادي پاتې نه ده...
له هغه هېواده،
چې د ورځپاڼو پېرېدو ته مو پرېږدي
خو د خبرو اورېدو ته مو نه پرېږدي...
له هغه هېواده،
چې پر ټولو مرغیو
د چغېدو تلپاتې بندېز لګېدلی
له هغه هېواده،
چې لیکوالان یې عادت شوي
له ډېره ډاره،
پر هوا لیکل کا!!

---

* خنساء، چې اصلي نوم یې تماضر بنت عمروالسلمیه و، له اسلام څخه دمخه یوه مشهوره شاعره وه. هغه د خپل ورونو،صخر او معاویه لپاره، چې د اسلام له عصره وړاندې ووژل شول، د مرثیه ویلو لپاره مشهوره ده. د هغه په قصیدو کې تر ډېره د خپلو ورونو زوړتیا او ویر او خپګان بیان شوی دی. پ.ژ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له هغه هېواده،

چې حال يې، احوال يې

زما د وطن له شعره څه توپير نلري:

خوشې شوې ويناوې

بې‌مانا خبرې

وارداتي کلام

غيرې عربي ژبه

غيرې عربي بڼه،

چې نه پيل لري نه پای

نه له خلکو سره اړيکه

نه له ځمکې سره

نه د بشر له رنځونو سره!

له هغه هېواده،

چې درومي د سولې مذاکراتو ته

له مېړانې تش

پښې‌پيله!

له هغه هېواده،

چې سړيو يې له ډاره

ځانونه لامده کړي!

او له مېرمنو پرته

څوک ورپاتې نه دي

څوک ورپاتې نه دي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې **نه** ووايي هغو ته،
چې په ګونډو شول
او جوړه يې هتې
زموږ له ډوډۍ،
غوړو،
له کورو،
له ځلانده تاريخو کړه

داسې شعر راپاتې نه دی،
چې خپل عفت يې
په برېستنې د سلطان لړلی نه وي!

موږ په سپکېدو يوو روږدي شوي
له هغه انسانه به پاتې څه شي،
چې عادت يې د سپکېدو شي؟!

لټوو د تاريخ په کتابو کې
**اسامه بن منقذ**
**عقبه بن نافع**
**حمزه** و **عمر**
او **خالد،** چې د شام په لوري درومي...
په ملي ړوندتيا يوو اخته شوي؟!
يا له کورمالۍ کړېږو موږ؟!

موږ په «ترهه‌ګرۍ» تورنوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

که تر اسرائیلي بېلدوزرو لاندې،
چې مو خاوره اړوي راوړي
تاریخ مو اړوي راړوي
انجیل مو اړوي راړوي
قرآن مو اړوي راړوي
خاوره د پیغمبرانو مو اړوي راړوي،
ونه غواړو شوو مړه
که گناه مو دا وي
نو بیا څومره ښکلې ده «ترهه‌گري»!

موږ په «ترهه‌گرۍ» تورنوي
که د مغولانو، یهودیانو* او بربرو په لاسونو
ونه غواړو شوو نابود
که د **امنیت شورا**،
چې خېټه ورباندې اچولې ده لوي امپراتور
وولو شیشې
په کاڼو!

موږ په «ترهه‌گرۍ» تورنوي

---

*نزار قباني په ځینو شعرونو کې په مستقیمه توگه پر یهودانو برید کړی او ان دا یې هم ویلي که چېرې هیتلر له یهودانو بې‌غمه کړي وای، نو فلسطین به له داسې ربړې سره مخ نه وی. د نزار قباني دا ډول دریځ یو ارتجاعي او ناسم دریځ دی، ځکه ستمگران هېڅکله د خپلو ولسونو استازي کېدای نشي. که چېرې ونکړای شو د ولسونو او دولتونو، د ولسونو او واکمنو ستمگرو طبقاتو تر مینځ توپیر وکړو، نو د یو دموکراتیک او آزادي غوښتونکي دریځ پر ځای یو ارتجاعي او استبدادي او ورسته‌پاتې دریځ غوره کوو. پ.ژ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که له لېوه سره مذاکرې ته غاړه کېنږدو
او امریکې،
دې بې‌فرهنگې ته
د بشري کلتور په وړاندې
له دې بې‌تمدنې سره
د نني تمدن په وړاندې
د مرستې لاس ورنکړو!
امریکا هغه ستره ودانۍ ده،
چې دېوال نلري!

موږ په «ترهه‌گرۍ» تورنوي
که مخالفت وکړو له هغې زمانې سره،
چې په کې شتمنه،
مغروره
ځواکمنه امریکا
د عبري ژبې رسمي ژباړونکې شوې!

موږ په «ترهه‌گرۍ» تورنوي
که د **قدس** و **الخیل**
یا د **غزې** و **ناصرې**
پر مخونو گلونه وشیندو
که ویسو اوبه محاصرې ته!
ډوډۍ محاصرې ته!

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږ په «ترهه‌ګرۍ» تورنوي
که غږ پورته کړو
د پرګنو ضد مشرانو په وړاندې
د هغوی په وړاندې،
چې زینونه یې بدل کړل
غوره یې د وحدتپالنې پر ځای کړه دلالي!

موږ په «ترهه‌ګرۍ» تورنوي
وایي د «ترهه‌ګرۍ» کوئ ننګه،
که د فرهنګ دنده کړو خپله
که د فقهې او سیاست کتابونه لولو
که یاد کړو خپل لوی خدای
که سورت د «فاتحې» کړو تلاوت
که د جمعې خطبې ته شوو غوږ

موږ په «ترهه‌ګرۍ» تورنوي
که له خپلې خاورې
د خپلې خاورې له ستروالي دفاع کړو
که پاڅون کړو
پر خلکو د تېري په وړاندې
پر ځان د تېري په وړاندې...
که راپورته په ملاتړ شو
د واښونو د خرما د وروستیو ونو
د اسمان د وروستیو ستورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خپلو نومونو د وروستيو تورو
د خپلې مور د شيدو د وروستيو ځاڅکو
که ګناه مو دا وي
نو بيا څومره ښکلې ده «ترهه‌ګري»!

له «ترهه‌ګرۍ» سره موافق يم
که ژغورلاې مې شي له هغو کډوالو،
چې له روسيې
له رومانيې
له مجارستانه
له لهستانه راغلي
او په فلسطين کې يې
زموږ پر اوږو پښې ايښې
راغلي،
چې د قدس منارې
د الاقصی جومات دروازې
ړبرليکنې او ګنبدونه رانه غلا کړي.

له «ترهه‌ګرۍ» سره موافق يم
که وکړای شي مسيح
د مرګ او ويجاړنې له سفيرانو
آزاد کړي
مقدسه مريم او مقدس ښار
آزاد کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر پرونه مو خلک
د خپلو ټاټوبو په واټو کې
په څېر د اسونو شنېدل
څپاند وو ډګرونه
د نهرونو د صلابت په شان
خو د **اوسلو** له تړون وروسته
نور مو غاښونه په خولو نشته!
بدل شوي په ړانده ملت یوو موږ؟!
بدل شوي په ګونګي ملت یوو موږ؟!

له «ترهه‌ګرۍ» سره موافق یم
که له ستمګرو، بلوسګرو ژغورلای شي ملت
د انسان له وحشته ژغورلای شي انسانیت.

له «ترهه‌ګرۍ» سره موافق یم
که له یهودي امپراتوره مې ژغورلی شي
که له رومي امپراتوره مې ژغورلی شي.

له «ترهه‌ګرۍ» سره موافق یم
تر هغو چې په «عدل» و «انصاف»
وېشل شوې نوې نړۍ وي
د اسرائیلو
د امریکې تر منځ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

له «ترهه‌گرۍ» سره موافق یم
له ټولو شعرونو سره
له ټولو نثرونو سره
له ټولو غاښونو سره،
چې په خوله یې لرمه
تر هغو موافق یم،
چې نوې نړۍ وي
دربست د قصاب په واک کې!

له «ترهه‌گرۍ» سره موافق یم
تر هغو،
چې نوې نړۍ
موږ د لېوانو په کتار کې شمېري!

له «ترهه‌گرۍ» سره موافق یم
تر هغو،
چې د امریکې سنا
د نورو کړنې ارزوي
جایزې ټاکي
جزا ټاکي!

له «ترهه‌گرۍ» سره موافق یم
تر هغو،
چې نوې نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

په خپل ذات کې د عربو له بویه وي
بېزاره

له «ترهه‌گرۍ» سره موافق یم
تر هغو،
چې نوې نړۍ
زما د ماشومانو سرونه پرې کوي
او د خپلو سپو مخې ته یې اچوي
نو برالا وایم:
له «ترهه‌گرۍ» سره موافق یم...
له «ترهه‌گرۍ» سره موافق یم...

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مینه بریالۍ ده**

سره له دې چې برېکۍ
جګېږي زما په سترګو کې
سره له دې چې غم
بيديږي ستا په سترګو کې
سره له دې چې په دې دوران کې
پر ښکلا کوي ډزې
هر چېرې
پر اند و عدالت کوي ډزې
هر چېرې
زه وایم مینه بریالۍ ده
په کراتو وایم
مینه بریالۍ ده

د وچېدلو،
مړاوېدلو په وړاندې
هیڅ پټنځی،
هیڅ پناهځای نشته

(c) ketabton.com: The Digital Library

له مهربانۍ ونې
پرته

سره له دې رنګېدلي دورانه
سره له دې دورانه
چې ليکوالان وژني
ليکنې وژني
په کوترو کوي ډزې
په سرو ګلانو کوي ډزې
پر بوټو کوي ډزې
ښخوي ښايسته شعرونه
د سپيو په هډېرو کې
زه وايم فکر بريالى دى
په کراتو وايم
فکر بريالى دى

نه مري ښکلې ويناوې
کله هم
نه په توره
نه په زندان
نه په کوم دوران

ګرانې!
سره له هغو ټولو کسانو،
چې سترګې يې محاصره کړي درله

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرغونتیا سېزي
ونې سېزي
سره له هغو ټولو کسانو،
چې ښکلې معشوقې یې زنداني کړي
زه وایم سور گل بریالی دی
په کراتو وایم
سور گل بریالی دی

گرانې!
سره له هغو ټولو وچېدلو،
چې اروا کې مو دي
سره له هغو ټولو مړاوېدلو،
چې اروا کې مو دي
د وربځو له کموالي
سره سره
د باران له کموالي
سره سره
اوبه بریالې دي
غوټۍ بریالې دي

سره له هغې ټولې شپې،
چې سترگې یې درنې دي
بې‌له شکه
ورځ بریالۍ ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کراتو وایم
ورځ بریالۍ ده

په داسې دوران کې،
چې اوښتی زړه
په لرګین لوښي
چې اوښتی شعر
په لرګین قالب
د بې‌مینۍ
د بې‌هیلۍ
د بې‌سیندۍ
په دوران کې
د پاڼو
د قلمونو
د کتابونو
د استعفی
په دوران کې
زه وایم سینه بریالۍ ده
په کراتوه وایم
سینه بریالۍ ده

د تېلو،
د ګازو له دورانه وروسته
بې‌له شکه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

طلا بریالی ده
په کراتو وایم
طلا بریالی ده.

سره له دې دورانه،
چې ډوب
په کړاونو
په اپینو
په اعتیادو
سره له دې دورانه،
چې انځور نه‌خوښېږي د چا نور
تابلو نه‌خوښېږي د چا نور
عطرونه نه‌خوښېږي د چا نور
رنګونه نه‌خوښېږي د چا نور
سره له دې دورانه،
چې تښتي له خدای پرستئ
په لور د شیطان پرستئ
سره له هغو کسانو،
چې ژوند یې راله تالا کړ
وطن یې رانه له جیبه تالا کړ
له زرګونو جاسوسانو
سره سره،
چې په دېوالو

(c) ketabton.com: The Digital Library

مهندسانو طرحه کړي،
ځای پر ځای کړي
له زرګونو راپورونو
سره سره،
چې موږکان يې
موږکانو ته ليکي
زه وايم ولس بريالی دی
په کراتو وايم
ولس بريالی دی

پوه ولس
بريالی ولس
سرنوشت‌سازه
ولس!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په بیړه رهیدونکي

د شرم وروستي دېوالونه ړنګ شول
خوشاله شوو، ونڅېدو
د ډارنو د سولې هوکړه‌لیک لپاره مو،
یوبل ته مبارکې ورکړې!
نور مو څه ډارولی نشي
څه مو شرمولی نشي...
وچ شوي مو د غیرت رګونه
په بدن کې
ښځې مو ایښې د تېښتې په دوران کې
ودرېدلي یوو په شان د پسونو
د مسلخ په کتار کې
منډه منډه
ساه لنډه لنډه
د قاتلانو د موزو خکلولو لپاره
مخکې کېږو یو له بله په ځو ځله
پنځوس کاله یې وګالله
زموږ په ماشومانو
ولړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پیازو غوټه یې راغوځار کړه،
د روژې په پای کې
پنځوسم ځله
**غرناطه** ووتله د عربو له لاسو
تاریخ ووتو د عربو له منګولو
د اتلولۍ د سرودونو انګازې ړنګې شوې!

**اشبیله** ړنګه
**انطاکیه** ړنګه
له جګړې پرته
له ویني پرته
**حطین** ړنګ
**عمویه** ړنګه
**مریم** د اربکیو په لاس پرېوته
خو د دې اسماني سمبول د ازادولو لپاره
نه نرشته
نه پاتې نرتوب دی...

وروستۍ سرې کربښې مو
د **رومیانو** په لاسو پرېوتې
له څه دفاع وکړو نور ؟!
نورې نلرو ماڼیو کې وینځې
چې قهوه کړي را ته جوړه
چې شهوت کړي راته برابر

(c) ketabton.com: The Digital Library

نور له څه دفاع وکړو؟!

ان یو **اندلس** راپاتې نه دی
لوټلي يې له مونږه
دروازې دي،
دېوالونه، مېرمنې، ماشومان دي
زيتون دي، غوړي دي، ډبرې د واټونو
لوټلي يې له مونږه
عيسی بن مريم،
چې لا د غاړې وه
لوټلي يې له مونږه
د ليمو، مندتو او ايلنيو خاطرې،
د جماتونو قنديلونه

راته يې پرېښې
د **غزې** په نوم د سردين* يو قوطی
د **اريحا** په نوم يو وچ هډوکی
د فلسطين په نامه يوه کاروانسرا
بې له چته
بې له ستنو
خوشې يې کړو

* سردين يا ساردين يو ډول کب دی، چې د خپل خوند او غذايي ارزښت په خاطر يې خلک خوښوي.د ساردين نوم د ايټاليا د ساردني ټاپو څخه اخيستل شوی، يو وخت په دې ټاپو کې دا کبان ډېر پيدا کېدل. پ.ژ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې هډه
یو بدن
بې ګوتې
یو لاس...
هېڅ غونډۍ راپاتې نه ده،
چې وربانديې تويې کړو اوښکې
څنګه ژړېدلی شي يو ولس،
چې اخيستل شوي وي
ورنه
اوښکې؟

د **اوسلو** له پټې عاشقۍ
شنډ راووتلو
د غنمو له دانې يې راکړ
وړوکی يو هېواد،
چې بې‌اوبو يې تېروم
د اسپرين د ګولۍ په شان!

دا دی،
له پنځوسو کالو وروسته
پر ويجاړ ټاټوبي ناست،
بې‌سرپناه
د زرګونو کوڅه ډبو سپو په شان!

له پنځوسو کالو وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرته له سرابه
د مېشتېدو هېواد مو و نه موند
هغه سوله،
چې د چاړې په شان
پر بدن ځای نه مومي
سوله نه،
تاوتریخجنه تېری دی!

څه به وي په بیړه د رهیدلو ګټه؟
څه به وي په بیړه د رهیدلو ګټه؟
خو د ملت وجدان چې ویښ وي
د بم د پلتې په څېر...
د **اوسلو** ټول لاسلیکونه
به وي له ړدنه
بې‌ارزښته!

د زرغونې سولې
د سپینې سپوږمۍ
د راڼه سیند
په خوب مو ولېدلې
زیاتې
رویاګانې
خو ناڅاپه شوو راویښ
په ناولو ډېرانو کې!

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې څوک شته،
چې د غښتلو د سولې پر ځای
د ډارنو له سولې وپوښتي؟
داسې څوک شته،
چې په قسطونو پلورېدنکو
چې په قسطونو کرایه‌کوونکو
د سوداګرو، تاجرانو
د پانګه‌اچوونکو له سولې وپوښتي؟
داسې څوک شته،
چې د مړو له سولې وپوښتي؟!

واټونه یې غلي کړي
پوښتنې یې ترور کړي
پوښتونکي بې وژلي...

بې له میني مو واده کړه
هغه ښځه،
چې یوه ورځ یې ماشومان زمور وژلي
یوه ورځ یې ځیګرونه زمور ژولي
له ځان سره مو بوتله
د ګبین میاشتې لپاره
مستې مستانه وګډېدلو
زمزمه مو ورته غوږ کې
کړل د میني ټول شعرونه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې په یاد وو راپاتې
خو له توره بخته
معیوبه، ناتوانه اولادونه مو
د ځینځښې په شان دي زېږولي!
د ویر د پیاده رو په څنډو کې آواره
نه ټاټوبی، چې ونیسي مو په غېږ کې
نه بچیان، چې یې ونیسو په غېږ کې

د واده په جشن کې
نه عربي نڅا
نه عربي خواړه
نه عربي ترانې
نه عربي شرم و حیا
یو وطندار هم په جشن کې نه و

د ناوې مَهر نیمایي برخه په ډالر
د الماسو د ګوتې بیه په ډالر
د عاقد پیسې په ډالر
د نکاح کېک و ډالۍ کړی امریکا
د ناوې جامې، ګلان، شمعې
او د **مارینز** موسیقي
ټول امریکایي!

واده پای ته ورسېد
فلسطین په کې شتون ونه موند

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل انځور يې وليد
چې له ټولو رسنيو خپرېدو
خپلې اوښکې يې کتلې،
چې د **شيکاګو**، **نيوجرسي** او **ميامي** په لور يې
د سمندر څپې شلولې

او د ذبحه شوي مارغه په څېر يې
چيغې وهلې:
دا واده زما واده نه دی،
امريکا، هېڅکله!
دا جامې زما جامې نه دي،
امريکا، هېڅکله!
دا شرم زما شرم نه دی،
امريکا، هېڅکله!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د تاریخ ښوونکی چا ووژو؟

**۱**

ښادي راشي له کومه،
کله مو چې رنګ د خوښې تور
کله مو چې ځانونه تور
فکرونه تور
منځ تور
ان سپینوالی راله
توروالي ته نږدې دی!

**۲**

ښادي راشي له کومه،
کله مو چې د ژوند ټولې پېښې
د استبداد سریال:
هېواد استبدادي
هجرت استبدادي
رسمي ورځپاڼې استبدادي
مخفي پولیس استبدادي
مېرمن استبدادي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او له یوې ښایسته ښځې سره مینه
استبدادي...!

**۳**

ښادي راشي له کومه،
کله چې د ماشومانو پر کالیو
د کربلا وینه بهېږي...

اند،
زموږ په ټاټوبي کې
ناولې له بوټانو
ښځه و شهوت
په نړۍ کې مو
د موخو نخوږ.

**۴**

ښادي راشي له کومه،
له هماغه ورځ چې په **غرناطه** کې
د ښځو پر سر
یو له بل سره لاس و ګرېوان شوو
ملت وپاشېد
حکومت له لاسه لاړ
او هېواد له قفسه والوت!

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۵**

زما د ټاټوبي تر ټولو دنګه ونه
د کينې ونه!

**٦**

حيران يم،
چې زما په ټاټوبي کې
په خپل واده کې هر ګل
د وير جامې اغوندي.

**٧**

موږ نه تلپاتې ملت لرو
نه حکومت
يو له بله بېل يوو....

**٨**

څه چې لولو
«ورځپاڼې» دي که د مړو تابوتونه؟
يا د وير،
د غم بلنه؟!

**٩**

ليکنې مو اقتباسي
غړونه مو د نيکونو له مرۍ راوځي...

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۱۰**

له «یو زرو یوې شپې»* یمه بېزاره
بېزاره چې د «شهرزاد» په غېږ کې
د لېوني په شان ویده شم.

**۱۱**

ښادي راشي له کومه،
کله مو چې ماشومانو
لا شنه زرغونه لیدلی نه ده!

**۱۲**

ښادي راشي له کومه،
له کومې ورځې چې له فلسطینه راووتلو
د لیمو او مندتې له حافظې راووتلو
په ایرو واوښتولو.

**۱۳**

هغه ورځ مو چې د بیروت سیند پرېښود

---

* یو زرو یو شپې، چې په عربي کې د الف لیله و لیله هم یادېږي، د عامیانه داستانونو یوه ټولګه ده چې په پېړیو کې راټول شوي دي. اصلي داستان یې د «پاچا» (شهریار) او د ملکې (شهرزاد) په اړه دی. پاچا د خپلې مېرمنې له خیانت وروسته پرېکړه کوي چې هره شپه له یوې انجلۍ سره واده وکړي او په سبا یې ووژني. شهرزاد، د یو وزیر په ځیرکتیا سره، هره شپه پاچا ته یوه کیسه بیانوي، خو کیسه نیمايي پرېږدي چې پاچا یې مړه نه کړي. دا لړۍ یو زر او یوه شپه ادامه مومي او... پ.ژ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د میندو سینې مو پرېښوې
د یادونو ګلونه مو پرېښول
خپل آزاده کورونه مو پرېښول
د تولد کارتونه مو پرېښول.

**۱۴**

موږ یو بل وخوړل
ماهیان
ملخان
به مو اوس
عذر ومنی؟!

**۱۵**

په ټاټوبي کې مو
ان د خدای جامې لیلامېږي!!

**۱۶**

ښادي راشي له کومه،
هره مرغۍ چې راوالوځي
سر یې پرې شي
هر پیام وړونکی چې راغی
سر یې پرې شو
هر مصلح
هر نوښتګر
هر لیکوال

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر شاعر
چې راغی
د شعر پر بالښت یې
سر له تنه پرې شو!

**۱۷**

زما په ټاټوبي کې د هوا بدلېدل
حرام!
د مېرمنو پر سترګو رانجه وهل
حرام!
د شعر ځای پر ځای کول
حرام!
د فعلونو و نومونو صرفول
حرام!
حرام!

**۱۸**

په درېمې نړۍ کې اربابان
د مرغیو له چغېدو
د ګلونو د وږمې له خورېدو
د کوترو د غومبر له اورېدو ډارېږي
که سیند
ډېر وغړېږي
زنداني کېږي!

(c) ketabton.com: The Digital Library

د درېمې نړۍ اربابانو ته سخته ده،
چې له اند سره پخلا شي
قلم ومني
لېوه چېرې کوي له پسونو سره
پخلاينه؟

**۱۹**

موږ په تېرو دورانونو کې
په شعر،
په بيان
په بديع
په وينا کې
مخکښ وو
خو اوس مو دنده
د ليکنو څېړول!

**۲۰**

د پوهنې،
د کلتور
لومړنۍ مانۍ
مامون وه جوړه کړې
تر هغه وروسته راغلل
د وژنې په حرفې کې
د زندان جوړونې په مهندسۍ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کارپوهه واکمنان بیا

**۲۱**

د ویاړ،
انساندوستۍ،
عزت،
سرلوړۍ،
ملتپا،
سخاوت او زړورتیا
زرګونې کیسې وې لوستلې ما
په ماشومتوب کې
خو کله چې شوم لوی
شوم پوی:
چې په تاریخ کې مې لوستلي نیمایي خبرې،
هسې خوشې ګنګوسې وې!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## نړۍ په کليمو تسخيروم

نړۍ،
په کليمو
تسخيروم
مورنۍ ژبه،
نحوه،
فعلونه،
نومونه
تسخيروم

غوځارم لېرې
د شيانو پيل
په نوې ژبې
راتلونکې پېړۍ روښانوم
هغه ژبه،
چې پيام لري د اور
چې آهنګ لري د اوبو

په سترګو کې دې زمان ودروم
چې بېلوي زمان له دې شېبې
هغه کرښې پاکوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په دستګيرۍ کې مينه

پرېږده،
لاړ شم
نور
هغه وينه چې مې ګڼله
بدله به نشي کله په اوبو
بدله شوې په اوبو
نوره
هغه اسمان چې مې ګڼو
شنه رڼه ځلا به يې نشي ماته
کله
رڼا يې ماته شوې
نوره
هغه لمر،
چې د اسپانيايي ګوشوارو په شان مې ستا له غوږو
راځوړندو
راولېدلی پر ځمکه نور
مات شوی نور...

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه کليمې،
چې مې پټولې ته ورسره په خوب کې
د ډاريدلو مرغيو په څېر الوتلې
ته يې پرېښودلې لغړه
نوره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مرغۍ او واکمن

په عربي هېوادو
ګرځم راګرځم،
چې شعر ووایم
باور لرم،
چې شعر هغه ډوډۍ ده،
چې د خلکو لپاره پخېږي
له پیله باوري یم،
چې توري یانې:
کبان
اوبه
ولس.

په عربي هېوادو
ګرځم راګرځم
یوازې شعري ټولګې له ځان سره لرم
له یوې تانې مې بلې ته لېږدوي
له یوه عسکره مې بل ته سپاري
په جیب کې مې یوازې مرغۍ دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ضابط د ودرېدلو امر راکوي
د مرغۍ پاسپورت رانه غواړي
زما په وطن کې
کليمې بايد پاسپورت ولري

ساعتونه
سرگردانه منتظر
د مامور امر ته په تمه
سوچ وهم د شگو بورېو ته
سترگې مې ډکې لکه درياب
مخې ته مې لگېدلې يوه دړه
غرېبړي له وطنه
غرېبړي له ملته
زه لکه موږک ناست
د خپلو غمونو کانگې کوم
ټول گچي شعارونه د پښو لاندې کوم
پر دروازو د خپل وطن
غورځېدلی يم مات
لکه يو جام.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د یو عرب جلاد ژوندلیک

**۱**

ای خلکو!
زه پاچا یم
مات مو بتان د گمراهۍ کړئ
عبادت زما کړئ
نه راڅرګندېږم همېش
د صبر پر صوفه راته کښېنې
تماشا زما کړئ
اولادونه مو خوشې کړئ بې‌له ډوډۍ
ښځې مو پرېږدئ بې‌له مېړو
پیروي زما کړئ

شکر د خدای د نعمتونو کړئ
راستولی یم زه
چې ولیکم تاریخ
تاریخ نشته بې‌له ما.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلق شوی لا نه دی بل په شان زما
زه یم یوسف د ښکلا
د زېړو ویښتو والا
نشته پیغمبروزمه تندی
لا تندی په شان زما
سترګې مې
ځنګل د زیتونو، د بادامونو
لاس په دعا شئ
چې په امان کا سترګې مې
پروردګار

ای خلکو!
زه مجنون د لیلي
ښځې مو راواستوئ،
چې حامله شي له ما
خاوندان مو راواستوئ،
چې شاکر شي له ما

افتخار دی چې ووسئ په شان زما
افتخار دی چې غنم وخورئ د بدن زما
افتخار دی چې راغونډ کړئ بادام، انځیر
د تن زما.

زه
هغه حادثه یم،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې له زرګونو پېړيو راهيسې
پېښه شوې نه ده
کله...

**۲**

ای خلکو!
په واکمنانو کې يم ښايسته تر ټولو
عادل تر ټولو

د توري تربږمۍ سپوږمۍ يم
د ياسمن سپينوالی
د دار د ستنې مخترع،
خيرالمرسلين يم.

هر ځله چې فکر کړم
چې ګوښه شم له واکه
وجدان مې مانع شي:
څوک به وروسته له ما پر دې نېکملو حکومت کا؟
څوک به وروسته له ما ړانده، جذاميان، ګوډان روغ کا؟
څوک به د مړو هډوکي راژوندي کا؟
څوک به له خپلې چوغه د سپوږمۍ رڼا راوځلوي؟
څوک به د خلکو لپاره باران راووروي؟
څوک به يې نوي قمچينې ووهي؟
څوک به يې په ونو صليب کړي؟
څوک به يې اړ کړي په ژوند د غواګانو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

په مړينه د غواګانو؟

هر کله چې د واک په پرېښودو فکر کوم
اوښکې مې رابهېږي د ورېځو په شان
نو پرېکړه مې دا ده
چې سپور پاتې شم پر خلکو
توکل پر خدای
له اوسه...
تر قیامته....

۳
ای خلکو!
زه ستاسې مالک یم
څنګه چې د املاکو، د مرییانو مالک یم
ګرځم پر تاسې
څنګه چې ګرځم د ماڼۍ پر قالینونو
راته په سجده شئ
چې یم ولاړ
راته په سجده شئ
چې یم ناست
تاسې مې د خپلو نیکونو په پاڼو کې
ما موندلي وې یوه ورځ؟

پام!
چې ونه لولئ کوم کتاب

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ځای مو لولم زه کتاب
پام!
چې ونه کاږئ کوم لیک
په ځای مو کاږم زه لیک
پام!
چې په پټه غوږ نشئ **فیروز*** ته
زه آګاه پر نیتونو یم
پام!
چې بې‌اجازې
دننه نشئ قبرو ته
دا ستره ګناه په نزد ده زما
پام!
کله چې غږېږم
غوره چوپه چوپتیا کړئ،
خبرې مې دي په شان د قرآن .

**۴**

ای خلکو!
زه **مهدي** یم
په تمه راله ووسئ

---

* نهاد ودیع حداد، چې هنري نوم یې فیروز و، په ۱۹۳۵کې لبنان کې زیږېدلې او د لبنان له مشهورو سندرغاړو څخه شمېرل کېږي. مېرمن فیروز د عرب نړۍ بېلابېلې پېښې په خپلو ترانو کې انځور کړې، د ساري په توګه «بیت المقدس زما په زړه کې» او «جمېلې ته لیک» (چې د الجزایر نامتو او قهرمانه مېرمن جمیله بوپاشا ته یې اشاره ده) په نامې یې ترانې ویلې دي.پ.ژ

(c) ketabton.com: The Digital Library

وینه مې د تاکونو په زړونو کې ترپېږي
ومې څښئ
ودروئ ترانې ټولې،
چې ماشومان یې د وطن په مینه وایي
زه په خپله وطن یم
په خپله یو تن یم.

تلپاتې یم
په ټولو کایناتو کې
پاتې د منۍ په حافظه کې
په شپېلۍ کې
په آسماني رنګه ترانو کې

عکسونه مې راځوړند په میدانونو کړئ
و مې نغاړئ د کلیمو په وربځو کې
تنکې پېغله راته کوژده کړئ
زه نه زړېږم کله
بدن مې نه زړېږئ کله
زندانونه مې نه زړېږي کله
په پاچاهۍ کې مې نه زړېږي
ځپانده نظام کله.

ای خلکو!

(c) ketabton.com: The Digital Library

**حجاج*** یم زه
که نقاب کړم لېرې
ما وبه‌پېژنئ
**چنگیزخان** یم زه
راغلی یم
له خپلو سپیانو سره
له نېزو سره
له زندانو سره.

ای خلکو!
مه خپه کېږئ چې تاوتریخوالی کړم
مه خپه کېږئ چې وژل کړم
که تاسې ونه وژنم
وژنئ مې تاسې
که په دار مو و نه وهم
په دار مې وهئ تاسې
که ښخ مو نکړم په ډله ایزه گور کې
په گور مې ښخوئ تاسې.

*حجاج بن یوسف ثقفی د اموي خلافت یو نومیالی قوماندان او واکمن و. د هغه په اړه بېلابېل نظرونو موجود دي. ځینې وایي چې هغه ډېر سختگیره او ظالم او زیږ و، خو بیا ځینې یې یو پیاوړی او توانمن دولتوال گڼي. پ.ژ

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۵

ای خلکو!
راله وپېرئ ورځپاڼې،
چې د بدلمنو په شان په واټونو کې عرضه کېږي
چې لیکل کا
زما په اړه
راله وپېرئ د پسرلني وښو په شان
صیقل شوي کاغذونه
راله وپېرئ رنګونه،
راله واخلئ چاپخونه
په دې دوران کې
پېریدلی شوو هر څه
ان
ګوتې.

راله وپېرئ د اند میوه
مخې ته یې راله کېږدئ
راله پوخ یو شاعر کړئ
د ډوډۍ په لوخو کې راله کېږدئ
زه بې‌سواده یم
په زړه لرم عقده
له څه چې وایي شاعران

راله وپېرئ شاعران

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې ستاینه مې د ښکلا کا
ستورې مې پښتې د کتابو کا
د نخا د ستورو
د ننداري د ستورو
ښایست نه رسېږي زما ښکلا ته
پېرېدلی شم څه چې وغواړم
په ارزښتمنو اسعارو
پېریدلی شم
دیوان د **بشار بن بُرد***،
شوندې د **متنبي***
سرودونه د **لبید****

---

*بشّار بن بُرد  د امویانو او عباسیانو پر مهال ژوند کاوه. بشّار ړوند زېږیدلی و، خو په شعر ویلو کې فوق العاده استعداد درلود. ویل کېږي چې د هغه پلار د عربو لخوا د افغانستان په تخار کې ونیول شو او بیا بصرې ته راوستل شو. بشّار د مهدي عباسي د خلافت پر مهال  د خلیفې د هجو کولو او زندیقي په تور محکوم او د شکنجې لاندې ومړ. پ.ژ

*ابوالطیب احمد بن حسین متنبی په څلورمه هجري قمري پېړۍ کې مشهور شاعر و. د عباسي خلافت په دوره کې د سیف الدوله حمداني په دربار کې  د هغه په ستاینې بوخت و. خپل ډېر شعرونه یې د هغه او د نور واکمنانو په ستاینه کې ویلي دي.پ.ژ

**لبید بن ربیعه عامری د بنی عامر له قبیلې و او په کوفه کې یې ژوند کاوه. له اسلامي دورانه مخکې شاعر و، وروسته بیا مسلمان شو او شعر ویل یې پریښودل. پ.ژ

(c) ketabton.com: The Digital Library

میلیونه شتمني،
چې د مسلمانانو په بیت المال کې ده
د پلار زوړ میراث زما دی
له طلاگانو مې واخلئ
په معتبرو کتابونو کې ولیکئ
چې دوران مې
د **هارون الرشید** دوران دی...

٦

ای زما پرگنو!
عربو پرگنو!
زه هغه پاکه راغلې اروا یم
د جاهلیت له دوړو مو پریمنځم
آواز راله ثبت کړئ په کستونو کې
آواز مې شین، موزون
د **اندلس** د فوارو په شان
انځور مې کړئ موسکېدلی لکه **ژوکند***
آرام د مډالونو د څېرې په شان
انځور مې کړئ،
په داسې حال کې چې داړم

---

*د لئوناردو داوینچی شاهکار، چې په شپاړلسمې پېړۍ کې وپنځول شو. دا د لیزا دل جوکوندو پنامه د یوې مېرمنۍ انځور دی، چې د رازجنې موسکا لپاره مشهور دی. پ.ژ

(c) ketabton.com: The Digital Library

له غاښو سره شعرونه

او څکم د الفبې وینه

انځور مې کړئ

پوځي امسا په لاس

وقار زما

پرتم زما

انځور مې کړئ

کله چې ښکاروم غرڅنۍ

انځور مې کړئ

کله چې وړم تاسې پر اوږو د ابدیت سرای ته

ای د عربو پرګنو

انځور مې کړئ!

۷

ای خلکو!

کله چې وینئ رویاګانې

زه مو مسوول د هرې رویا یم

زه مو مسوول یم د هره قطره ډوډۍ چې خورئ

ان که په یوازیتوب راپسې وغړېږئ

د ماڼۍ امنیتي ادارې مې خبروي

د مرغیو له حاله مې خبروي

د غنمو د وږی له حاله مې خبروي

د امیداورې ښځې د نس له حاله مې خبروي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ای خلکو!
زه مو زندانوان یم
زه مو زنداني یم
ما وبخښئ
زه تبعید شوی په خپله ماڼۍ کې
نه لمر وینم
نه ستوري
نه ګلونه د **دفلي**

له ماشومتوبه
چې ناست د واک پر ګدۍ یم
د سرکس لوبغاړو کلابند کړی یم
یو يې راته شپېلۍ وهي
بل يې راته ډول
یو مې غوړه مالي کوي
بل يې پاکوي بوټان زما

له ماشومتوبه
چې ناست د واک پر ګدۍ یم
هېڅکله مې د ماڼۍ له مشاره وانه ورېدل
«نه!»
هېڅکله پر ژبه د وزیرانو رانغله
«نه!»
هېڅکله سفیرانو راله ونه ویل

(c) ketabton.com: The Digital Library

«نه!»

هيڅکله يوې مېرمنې راله د مينې پر بستر ونه ويل

«نه!»

هغوی رازده کړل چې ځان خدای وګڼم
د تخت له سره خلک د بې‌ارزښتو شګو په شان وګڼم
ما وبخښئ که بدل په نوي **هلاکو** شوم
نه وژنم تاسې د وژنې د مزې لپاره
وژنم تاسې د سرګرمۍ لپاره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## بیروت سوځي، ته راته ګرانه یې!

۱

کله چې بیروت سوزېده
او اوروژونکو یې سره کالي وېنځل
او هڅه یې کوله،
چې پر کتارو ناستې مرغۍ کړي
آزادې
ما پر واټونو
پر سیزونکي اور
پر ړنګو ستنو
د شیشو پر ماتو ټوټو
وهله منډه
پښې یېله
په داسې حال کې مې ستا څېره لټوله
چې د بندي کوترې په شان وه
د لمبو په نځا کې

ټوله هڅه مې دا وه
چې بل بیروت وژغورم
هغه بیروت،
چې یوازې ستا مال و

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما مال و...
هماغه بیروت،
چې زه او ته یې
په یوه وخت وزېږولو
او له یوې سینې یې شیدې راکړې
هماغه بیروت،
چې موږ یې **یدریا** ښوونځي ته ولېږلو
او هلته مو د سفر لمړني درسونه
د میني لمړني درسونه
له کوچنیو کبانو زده کړل
هماغه بیروت،
چې د ډوډۍ په قطرو کې
د کونځلو په خوږو کې
د ښوونځي په بکسو کې مو له ځان سره وړو
هماغه بیروت،
چې د جوارو په بوتلو کې مو اېښود
هماغه چې د عشق‌بازۍ په لویو شپبو کې مو
ستا بیروت
زما بیروت
نوماوه.

**۲**

کله،
چې وطن له وطنه تښتېده

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د بیروت نړیوال هوايي ډګر کې
ماشومان بیده د خپلو لوبو پر شیانو وو
کله،
چې پلرونو
د اوښکو ډک بکسونه وزنول
او مجبوره وو،
د هر اضافي کیلو اوښکو لپاره
د هر اضافي کیلو غم لپاره
جریمه ورکړي
کله،
چې وطن ایښي وو لاسونه په خېره
- ژړېدو -
کله،
چې د مني وربځې
د **قناصه** د مردکیو د لګېدلو له ډاره
ډارېدلې چې د لبنان ساحلونو ته
د یونان له ټاپوګانو نژدې شي
کله،
چې واټو کې څراغونه له ډاره رپېدل
د کلکو قهوه‌خانو سایبانونه
خورېدل
څیرېدل
کله،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې سهارنیو مرغانو
خپل بچي پر ځانګونو ایښودل
کوچېدل
کله،
چې ټوټې ټوټې کاوه
وطن
وطن
زه
له جنایته ځوسوه متره لېرې
قاتلان مې لیدل
چې له بیروت سره یې کوله جماع
د یوې مینځې په شان
د قبیله ای تړون له مخې
د قومي امتیازاتو له مخې
د پوځي درجو له مخې
یو په یو
وار په وار

زه یوازینی شاهد نه وم،
چې زرګونه ځلاندې چاړې مې د لمر لاندې
پړکېدلې کتلې
زرګونه مزدوران مې کتل،
چې په اور کې د سوځېدلې مېرمنې
د جسد له چاپېره

(c) ketabton.com: The Digital Library

مست

مست

نخېدل

خو زه یوازینی شاعر وم،

چې پوه شوم

ولې بدل شو د بیروت د سیند نوم:

له سپینه سینده

په سور سیند.

**۳**

کله،

چې بیروت سوزېده

او ټول په دې فکر،

چې خپلې پاتې شخصي شتمني وژغوري

ناڅاپه را یاد شول،

چې ته لا زما معشوقه یې

ته مې هغه لویه شتمني یې،

چې ښکاره کړې مې نه ده هېڅکله چا ته

ناچاره یم

که ژوند راپرې نه ږدي بله چاره

چې وژغورم خپل دا ګډ میراث

دا خپله شتمني د عاطفې

په دې مینهناکه ښار کې،

چې یوه ورځ رازداره صندوق و،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې مو پتلونې په کې
کوچنۍ سپماوې خپلې
پټې نقاشیانې
زما لپاره
ستا لپاره
پټ انځورونه،
چې هېڅکله چا لیدلي نه دي
د هغو شعرونو طرحې،
چې په پنسل مې درته لیکلې
خو څوک پرې خبر نه دي
کتابونه
ډبرلیکنې
استوانې
د سرامیک قابونه
پستکارتونه
کیلي‌بندونه،
چې د نړۍ په ټولو ژبوورباندې لیکل شوي:
راته ګرانه یې!
سیمه ایزې نانځکې
- د میني نښې -
چې تا له ځان سره
له یونانه، له بالکانه
له مراکشه، له فلورانسه

(c) ketabton.com: The Digital Library

له سنګاپوره، له تایلنده
له شیرازه، له نینواه
له ازبکستانه وې راوړې
او جوړ شال له سرو وریښمو،
چې ډالۍ وه زما
هغه ورځ چې راستون له اسپانیا شوم
تا اچولی و پر اوږو
په دې پوه شوم...
چې ولې **طارق بن زیاد**
**اندلس** ته د ننوتلو لپاره جنګېده
په دې پوه شوم،
چې ولې زه جنګېدمه
لا جنګېږم،
چې ورکړې اجازه زما د بېړیو ورود ته
د خپلو سترګو د اوبو برید ته

**۴**

بیروت،
کله چې رنګېدو
د **بیزانسي** شمعدانیو په څېر،
چې د طلا په اوبو ښکلې وې
کله چې جوپه جوپه خلکو
خپل ویر په یو ډول تعبیراوه
خپلې اوښکې یې په یو ډول توېولې

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه د خپل خصوصي وير په لټون وم
د هغې ښځې په لټون وم،
چې هېڅوک یې په شان نه وو
هغه ښار چې بېلګه یې نه وه
هغه شعرونه چې د سرېو د لیکنو تر منځ،
چې د میني په اړه یې لیکي
بې‌ساري وو

کله،
چې ښځو وير مېچو
د سوځېدلو ټوکرو له ګزونو سره،
له خپلو لاسي بکسونو سره
کله چې ښځو وير اټکلو
له چپنو، له غاړکيو سره
او په دې رويا وې
چې خوندي يې له سوزېدو کړي
کله،
چې سړو خپل تاوان محاسبه کوو
د بانکي حسابونو له سپما سره
زه وم ناست پر یوې ډبرې،
چې په څېر د اوښکو د یوې څاڅکې وه
او خپل تاوان مې شمېره
د قهوې له هغو پیالو سره،
چې څښلې مې شواى

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغو پوښتنو له شمېرو سره،
چې پوښتلې مې شوای

که چېرې بیروت سوځېدلای نه وای
نو لاسونه به مې ستا په لاسو کې وای.

۵

مهمه راته نه وه،
چې بیده یې یا ویښه...
مهمه راته نه وه،
چې بشپړه بربنډه یې یا نیمه...
مهمه راته نه وه،
چې پوه شم له چا سر یې همخونې
یا له چا سره یې همبستره
دا خبرې ټولې وې راته وړې
لویه خبره دا کشفېدل وو،
چې تل راته وې گرانه

د نیلوفر د گل په څېر
تل لامبوزنه یې ته
زما د ذهن په اوبو کې
د تاریخي کلیسا د ډبرو له منځه
د وښو د زغورنېدلو په څېر
د گوتو تر منځه مې زرغونېږې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

مهمه راته نه وه،
چې څوک درله ګران دی اوس
په څه فکر کوی ته اوس
په اړه یې کوو خبرې وروسته
برخلیک‌سازه خبره دا ده اوس
چې ته یې راته ګرانه
او زه
د یاسمن د دوو ګلونو
د نړۍ تر ټولو ښایسته ګلونو
ـ ستا او د بیروت ـ
د ملاتړ مسوول ګڼم ځان.

٦

پر ما مه کوه نیوکه،
چې په زوره، په ناڅاپه
دې خونې ته شوم دننه
هر ډول جامې چې اغوستی شې
واغونده
ما مه پوښته چې ولې؟
سوزي بیروت هلته
سوزي زموږ بیروت هلته
ته سره له ټولې ناپوهۍ
سره له بې‌درناوۍ
لا یې په ما ګرانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

راغلی یم،
چې پر اوږې دې راواړومه
د کوچنۍ پیشۍ په څېر
رابېرونه دې کړم
د مرګ له بېړۍ
د اور، د لېونتوب له بېړۍ
ځکه زه د ښایسته پیشوګانو
د ښایسته سترګو
د خپلو ښایسته ښارونو
د سوزېدلو مخالف یم!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اوربند

نشته په شعر کې
اوربند
نشته په شعر کې
د اوړي رخصتي
ضروري رخصتي
اداري رخصتي

حاضر باید ووسې په ډګر کې
تر وروستي څاڅکي د وينې
يا په خنده په ګونډو شی
له لوبې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## له کليمې پرته

بله لاره چاره نشته
له کليمې پرته
د شيدو د ورکړې سينه نشته
له کليمې پرته
بل ملاتړی هېواد مې نشته
له کليمې پرته
په تيره مې نشته کومه مېرمنه
له کليمې پرته!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د رسامۍ درس

۱

زوي مې اوبلنې رنګې
مخې ته راته ږدي
رانه غواړي مرغۍ رسم کړم
برس په خړ رنګ کې خړوبوم
يو قلف
څو ميلې
يوه مربعه
رسموم
زوي مې حېرانېږي
راته وايي:
دا خو زندان دی پلاره!
مرغۍ رسولای نشې؟
ورله وايم:
وبخښه زويه!
تللې مې له ياده
د مرغيو ده بڼه!

۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

زوي مې
رنگې راته ړدي
رانه غواړي سيند رسم کړم
توره دايره په پنسل رسموم
راته وايي:
دا خو توره دايره ده پلاره!
لکه چې سيند رسمولی نشی؟
لکه چې نه پوهېږی د سيند رنگ شين دی؟
ورته وايم:
زويه!
يو وخت مې رسمولی شو
سيند
ښکلی
خو اوس يې رانه
د کبنيولو لومه
د سيند جاله اخيستي
بند کړی يم له شنه رنگ سره له خبرو
بند کړی يم د آزادۍ د کب له ښکاره!

**۳**

زوي مې
د رسامۍ کتابچه راته ړدي
رانه غواړي
ورته د غنمو وږی رسم کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library

قلم اخلم

یو ټوپک رسمومه

زوی راباندې وهي ملنډې،

چې د رسامۍ هنر کې يم کمزورې

په حيرانۍ راته وايي:

پلاره!

نه پوهېږی

چې ټوپک توپير کا د غنمو له وږی؟

ورته وايم:

زويه!

پېژندل مې پخوا

شکلونه

د غنمو د وږي،

د ډوډۍ،

د گلانو

خو په دې اوسپنيز پېر کې،

چې د ځنگل ونې له وسلوالو سره يو شوي

گلونو پوځي جامې په تن کړي

د وسلوالو وږي په پېر کې

د وسلوالو مرغانو په پېر کې

د وسله وال دين په پېر کې

ډوډۍ نه پېږم،

مگر دا چې په کې و موندم ټوپک

(c) ketabton.com: The Digital Library

له ګروندې ګل نه شکوم،
مګر دا چې راته ونيسي وسله
کتاب له کتابتونه نه پېرم،
مګر دا چې په ګوتو کې مې شي منفجر...

**۴**

زوي مې،
د کټ پر څنډه راته کښېني
رانه غواړي چې يو شعرکړم ورته بيان
يوه اوښکه راتويه شي پر بالښت
په حيرانۍ يې راخلي
راته وايي:
پلاره!
دا خو اوښکه ده، نه شعر
ورله وايم:
زويه!
کله چې لوی شوی
او د عربي شعرونو ديوان دې ولوست
پوه به شې چې اوښکه او شعر سره دي خويندې
او عربي شعرونه
هغه اوښکې دي،
چې د ګوتو له مينځه راتويېږي

**۵**

(c) ketabton.com: The Digital Library

زوي مې،
پنسلونه
رنګې
راته ږدي
رانه غواړي چې وطن رسم کړم
برس مې په لاسو کې رپیږي
اوښکې مې پر لېمو راتوییږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پر چا چې نه یې ګران، بې‌وطنه دی

ستا په مینه
له خدای سره،
له ځمکې سره،
له تاریخ سره،
له مهال سره
تړاو لرم.

له اوبو،
له کروندو،
له خندانو ماشومانو سره
له ډوډۍ،
له سیند،
له صدف سره
له بېړیو
د شپې له ستورو سره
چې خپل بنګړي رابخښي ماته

له شعر سره،
چې په کې مېشت یم

(c) ketabton.com: The Digital Library

له تپ سره،
چې را په کې مېشت دی

ته هغه وطن يې،
چې پېژاند بخښې نورو له
پر چا چې نه يې ګران
هغه بې‌وطنه دی!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لیکم

لیکم،
چې شیان منفجر کړم
لیکل په خپله انفجار دی

لیکم،
چې رڼا پر تروږمۍ کړمه بریاله
شعر کړمه کامیابه

لیکم،
چې د غنمو وږي یې ولولي
ونې یې ولولي

لیکم،
چې سور گل پوه کړم
مرغۍ
پیشو
صدف
ستوري
ماهیان
پوه کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیکم،
چې نړۍ د هلاکو له غاښونو
د پوځیانو له حکومتونو
د لنډه‌غرو له لېونتوبه
آزاده کړم.

لیکم،
چې ښځې
د بلوس له تورو تمبو
له مړو ښارو
د مریيتوب له ولایتو
له ستومانو ورځو
له سرخته
له تکراره
آزادې کړم.

لیکم،
چې کلیمې
له تفتیشه
د سپو له بویولو
د سانسور له تېغه
آزادې کړم.

لیکم،
چې خپله ګرانه مېرمنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

له بې‌شعره ښاره
له بې‌مينې ښاره
د وير و خپګان له ښاره
آزاده کړم
او ترې جوړې
اوبلنې وربځې کړم

ليکم،
څکه يوازې ښځې
يوازې ليکنې
مور له مرګه ژغورې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د شعر یاران

د اور ونه
د هيلو رويبار يم
د پنځوسو ميليونو مينانو
وياند
ويرجن
په غېږه کې مې آرامېږي
ورته جوړوم کوتره
کله
ورته جوړوم بوټی
د نهيلی
کله

ملگرو
زه هغه ټپ يم،
چې منلی يې نه ده په ځان
د چړې واکمني
کله!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ویر ماښومان

شته د ویر داسې ماشومان،

چې لوی به شي…

شته د پاښنده درد داسې ماشومان،

چې لوی به شي…

شته په فلسطین کې د وژل‌شویو داسې ماشومان،

چې لوی به شي…

شته  د خاورې، د کوڅې، د دروازې داسې ماشومان

چې لوی به شي…

چې له دېرشو کالو یې

د استنطاق په کوټو کې

د پولیسو په حوزو کې

په زندانو کې راغوندۀ کړي

چې د اوښکو په شان راټول شوي

په لېمو کې

ناڅاپه به رادننه

له دروازو د فلسطین شي!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## راته گرانه يې!

کله مې چې وويل
راته گرانه يې
پوهېدم چې د قبيلې په وړاندې مې
پاڅون کړی
او جرس د رسوايۍ مې وهلی

غوښتل مې د ستم ماڼۍ کړم ويجاړه
غوښتل مې شنه کړم ځنګلونه
غوښتل مې سيندونه کړم بهانده
غوښتل مې د نړۍ ماشومان کړم آزاده
غوښتل مې د وحشت عصر پای ته ورسوم
غوښتل مې وروستی واکمن ړنګ کړم
غوښتل مې ستا په ګرانوالي
ماتې د ټولو حرمسرايو دروازې کړم
خلاصې د ښځو سينې د سړيو له غاښو کړم!

کله مې چې وويل
راته گرانه يې
پوهېدم چې د هغه ښار لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوې الفبې جوړوم،
چې پکې لوستل څوک کولای نشي
هغه سالون ته شعر لولم
چې تش دی
هغه چا ته تویومه شراب په جام کې،
چې څښلي يې نشي!

کله مې چې وویل
راته ګرانه يې
پوهېدم چې وحشیان به تل
په زهرجنو نېزو، په غشو، په لیندو
ښاري ما
څړوي به راله عکسونه په دېوالو
وېشي به راله نښې د ګوتو په پوستو
ستره جایزه به رسي هغه چا ته
چې وروړي مې سر
د لبناني مالتې په څېر به يې راځړندوي
د ښار د دروازې پر سر.

کله مې چې د ګل پر پاڼو ولیکو ستا نوم
پوهېدم چې خلک رادرېږي زما مخې ته
متقيان او لنډه‌غران رادرېږي زما مخې ته
چې په ارث يې نه ده وړې مینه
ټول رادرېږي زما مخې ته!

(c) ketabton.com: The Digital Library

گرانې،
آخري واکمن نابودول غواړم
ستا د مینی دولت جوړول غواړم
پوهېږم په دې انقلاب کې به یوازې مرغۍ وي
زما همسفره!

نه مې د تېلو څاه شته
چې وویاړمه وربادنې
یا په کې ولامبوم معشوقې
نه د **آقاخان** په څېر شتمن یم
نه د **اوناسیس** ټاپو زما ده،
چې اندازه یې د یوه سیند ده
زه شاعر یم
ټوله شتمني مې
د شعرونو ټولګه
او ستا ښایسته سترګې دي!

ښوونکی نه یم،
چې درزده کړم مینه
کبان اړتیا نلري د زده کړې
د لامبو لپاره
مرغان اړتیا نلري د زده کړې
د الوتلو لپاره....
ولامبه

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوازې
والوزه
یوازې
مینه بې کتابه ده
د نړۍ مشهوره مینان بې لوستې وو

ګرانې،
پرېږده د بورژواوو پېښې
تېره شه د **شپاړسم لویي** له پلازه
تېره شه له فرانسوي عطرو
پرېږده د تمساح د پوټکي جوړ کنځول
له ما سره د آناناس او باران ټاپو ته راشه
سرې اوبه يې د سېزانده غونډېو
ستا د وجود په شان ګرمې،
نرمې
په رازړه کوي يې امونه
ستا د سینو یادونه

ای د شک مېرمنې
ای د ډار مېرمنې
د **مکس فاکتور** مېرمنې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د **الیزابت آردن*** مېرمنې
ته یې بېحده متمدنه
له کاشوغې سره
له پنجې سره
د میني میز تر شا کښېنې
خو زه صحرایي
تنده د پېړیو پر شونډو
سل میلیونه لمره
پراته ترکمیس لاندې!

خپه کېږه مه
چې مخالف دې د ډوډۍ خوړولو
آدابو یم
خپه کېږه مه
چې لېرې غوځارم
د سپین دسترخان دستمال
زه په هغه ښار کې زېږېدلی یم
چې پر چا گران نه وو ماشومان
زه په هغو خلکو کې زېږېدلی یم،
چې اعتراف نکوي د انسان په بېگناهۍ!

---

* مکس فاکتور (Max Factor) د سینگاریزه لوازمو د تولید پخوانی او مشهور برنډ دی، چې په ۱۹۰۹ کال کې یې تولید پیل کړ.الیزابت آردن (Elizabeth Arden) د عطرو او سینگاریزه موادو امریکایي برنډ دی، چې په ۱۹۱۰ کال کې یې تولید پیل کړ. پ.ژ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغو خلکو،
چې هېڅکله یې پېرېدلي نه دي
د شعرونو کتابونه
د ګلونو څانګې
له میني،
له عاطفې
بې‌خبره
خلک!

زه په هغه ښار کې زېږېدلی،
چې دېوالونه یې ساړه
خلک یې شیشه‌خور
او مري یې ماشومان په یخنۍ کې!

نه له چا بخښنه غواړم
نه له ډاروونکې ستنې له څندې نه
د ژغورنې مدافع وکیل غواړم
په زرهاوو ځله څندې شوی یم
ورمېږ مې عادت د پړي له کړۍ سره
تن مې عادت د اجسادو له تسکرې سره
نه له چا معذرت غواړم
نه له چا بخښنه غواړم!

نارې وهم

(c) ketabton.com: The Digital Library

که وروستۍ نارې مې د ژوند وي
پاچا نه وم، نه یم
نه د تیزابو په حوضو کې کوم
د مېرمنو عاموژنه
زه هغه شاعر یم،
چې په لوړ آواز یې لیکي
په لوړ آواز مینبېږي
هغه شینسترګې ماشوم،
چې د بېماشومه ښار په دروازې
په دار دی وهل شوی!

ته،
ساده جامې اغوندې
**مائو*** لولې
غاړکۍ دې په غاړه کې
ګل دې ټومبلې په زلفانو
له **فرهنګي انقلابه** غړېږې
د آزادۍ له بیرغ سره ګام وهې
غواړې آزادي د محصلینو
رنګېدل د دېوالونو

---

* مائوتسه تونګ د چین د انقلاب لارښود و، چې د چین ولسي سوسیالیستي جمهوریت یې رامینځته کړ. هغه د مارکس، انګلس، لنین او ستالین تر څنګ د نړۍ د پرولتاریایي غورځنګ له لورې د پرولتاریا د رهبر په توګه یادېږي. پ. ژ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو کله چې برید کوي
له شنو غاښو سره مینه
ته رپیږې
د **مائو** عکس درنه ولیږي
رپیدلی بیرغ درنه ولیږي
د نیا غېږې ته وړې پناه
په ژړا
ځنګه چې ناوې شوه هغه
ته هم ناوې کیږې!

انسان
مدعي د آزادۍ
په خپله په بند کې
آزادي نلري ان
له خپلو لاسو، شونډو او جامو سره
د غږېدلو !

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ټول شيان مري

کله چې په يوه ښار کې
باورونه،
اندونه
راټيټېږي
د آس د نال په شانتې کږېږي
کله چې ډارن په خپلو وسلو
انسانان
وژني
او خلک د موږکانو په شان پټېږي
کله چې ورځپاڼې
د ترحيم په اعلانو ډکېږي
د ټولو شيانو مرگ رارسېږي

غږونه
رنگونه
اوبه
وابنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

له خپله وجوده تشېږي
ونې خپلې ريښې خوشې
مهاجرېږي
جغرافيه له خپله ځايه تښتي
او د انسان پای رارسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دا څرنګه وطن دی؟

دا څرنګه وطن دی،
چې له خپلو مينانو سره
د ګزمې په شان کوي چلند
ګل،
د بلوا
نښه
شعر،
د نظام ضد
شپه‌پاڼه
ګڼي

دا څرنګه وطن دی،
چې د ميني بند يې
له درسي نصابه پاک کړی

دا څرنګه وطن دی،
چې شعرونه يې
بند کړي
د ښځو سترګې يې
ملغا کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## آزادي

که هره مرغۍ وای اړمنه
چې اجازه واخلي د پرواز
د کورنیو چارو له وزیره
که هر کب وای اړمن
چې پاسپورت ولري د تګ
کبان
نابودېدل
مرغان
تباه کېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د شعر سور ګل

ومې لټوئ!
له ځان سره څه نلرم
یوازې ویر
او سره ګلان د شعر

د ګلانو پر پاڼو
د غنمو پر وږو
جګړې غوبل کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## بې‌تا وژړېدم

بې‌تا وژړېدم
توله شپه
توله ورځ
کلیزه دې لمانځلې نشم
تاریخ پر تا ویرجن

له تا وروسته مې نور
لمر لیدلی نه دی
پاتې دی د وربځو تر شا
لمر

ومې‌بله ځان ته
ځمکه یخه
کلونه کېږي
چې خلکو سهار لیدلی نه دی

تر هغه چې تویېږي زما اوښکې
ځپانده به وي
دریابونه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

**یو بانګي**

زموږ په سیمه کې یو بانګي
بې‌سواده
د پټو جاسوسانو سرلاری
په څه نه پوهېږي
له تېري،
له وژنې،
له جعلکارۍ
د چرسو له مستۍ
جامې یې خرڅولې
د خپل پلار
په ګرو یې ایښوده
ګوته د خپلې مېرمنې
غاښونه یې غلا کول
د مړو
ان

زموږ په سیمه کې یو بانګي
ټول استعداد یې د وسلې رایستل
پر کلیمو ډزې کول

(c) ketabton.com: The Digital Library

زموږ په سیمه کې یو بانګي
عصاب‌خرابه،
لېون‌ساری
هره ورځ خطبه لولي په شان
د حاجیانو
ګرځي لکه مامون په تکبر
د جومات له منبره وهي چغې:
حیران مې ټول دي پاکې ته
زه یم قانون
زه یم دولت.

څنګه به وورېږي پر موږ ژغورنده باران ؟
څنګه به غنم شنه شي؟
څنګه به خپور خیر شي،
برکت شي؟
څنګه به راپه برخه برکت شي؟
خدای نه چلوي پر دې هېواد
حکم
چلوي بانګیان پر دې هېواد
حکم

زموږ په هېواد کې
یو بانګي
ځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

بل بانگي
راځي
سرغړونه
ده هماغه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## منفجرېدل...

منکرېدلی
کله شم
له هغه پتنګه،
چې په رګو کې مې لمبېږي
منعه کولای
کله شم
هغه یاسمن،
چې په اوږو مې رازغورنېږي
پټولای
کله شم
هغه مینه،
چې د کمیس لاندې مې درېږي

د دې ټولو
پټول
منعه کول
منکرېدل
یانې:
منفجرېدل...

(c) ketabton.com: The Digital Library

## وطنه

له تا يې جوړه کړې
ډارونکې ډرامه ده
وطنه!
ځارم دې
شپه
په شپه
ځنګه دې ووينم
که بريښنا بنده کړي؟...

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غواړم په غېږ کې دې ونيسمه

غواړم مينه درسره وکړم
مخکې له دې چې فاشيستي فرمان صادر شي
غواړم درسره کېنم
يو
څو
دقيقې
يوه پياله قهوه درسره وڅښم
مخکې له دې چې مخفي پوليس
لېرې کړي څوکۍ
مو له پښو لاندې

غواړم په غېږ کې دې ونيسمه
مخکې له دې چې متې راته ځنځير کړي
او خوله راته بنده کړي
غواړم په مړوندو کې دې ونيسمه
مخکې له دې چې پر اوښکو راله
ګمرکي ماليه وضعه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سویسي مرغۍ

عربي ورځپاڼې مې په لاس کې دي
د **ژنيو** سيندګي پر غاړه يې غواړم
ولولم
سلګونه ډاربدلې مرغۍ
ناڅاپه تښتي
د ورځپاڼو پر عنوانونو، پر خبرونو يې
سترګې لګېږي
د خپلو بچيانو له برخليکه
ډارېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غواړي ګډ شي په دريابونو

غواړي چې نړۍ فتحه کړي
خو عاجز د يو کتاب له خلاصولو
غواړي ګډ شي په دريابونو
خو له يوه څاڅکي اوبو سره
خوييږي
ورکوي د فرهنګي انقلاب زېرى،
چې سېزي
وچ،
لانده
يوځاى
خو شعور يې د کافي شاپ له دروازې
د اورېدلو ژباړل شويو کتابو له عنوانو
نه زياتيږي!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وحشت نسلونه

ښکلي غږېدلی شم له خلاصونه
- مېرمنې؟
ښکلي غږېدلی شم د وینا له آزادۍ؟
ښکلي غږېدلی شم د میني له آزادۍ؟
ښکلي غږېدلی شم د سترګو له آزادۍ؟
د ښځو له آزادۍ؟

پر اوږو مې وړم میراث
د وحشت ټول نسلونه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## وروستۍ کوتره

ته د آزادۍ جغرافیه
وروستی ټاټوبی
وروستی هېواد،
چې ساتې مې له ولږې
له ډاره
ته وروستۍ ګېډۍ
ته وروستۍ سپوږمۍ
ته وروستۍ کوتره
ته وروستۍ وریځ
ته وروستۍ غوټۍ
چې بویولی ما
ته وروستۍ کلیمه،
چې لیکلې ما
ته وروستی کتاب،
چې لوستلی ما.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غواړم مین شم...

غواړم مین شم،
دنیا کړم بدله په مالتې
لمر کړم بدل په اوسپنیزې
ډیوې

غواړم مین شم،
پولو ته،
پولیسو ته،
بیرغو ته،
ژبو ته،
رنگو ته،
توکمو ته
د پای ټکې کېږدم

گرانې،
غواړم د یوې ورځې لپاره نړۍ وځرخوم
ودان د احساس جمهوریت کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ښکلی ژوند**

ماشومانه پښې يې رانه واخيستې
- جګړې
د مينې په لور يې ډزې وکړې
ويې وژله مينه
د سيند په لور يې ډزې وکړې
د لمر په لور يې ډزې وکړې
په کروندو يې ډزې وکړې
د ماشومانو په کتابو يې ډزې وکړې

ښکلی ژوند يې راله تالا کړ
- جګړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د جمعې خطبه

د جمعې په ورځ يې
وغوښتل خلک جومات ته
په پرتمينې خطبې کې يې وويل:
د خدای له اولياوو يم
د خدای له نازدانو
د خدای له دوستانو

په دې ړنګېدلي ويجاړ ښار کې
په دې غمځپلي ښار کې
ادعا يې وکړه،
د خدای شخصي استازی يم
د خدای شخصي وياند يم

اجازه شته لويه خدايه چې وپوښتم
تا ورکړې مهر و لاک د وکالت
چې کښني تر ابده
پر ورمېږ د ملت...؟!
تا ورکړی دستور،

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې ښار د ورانولو؟
تا ورکړی دستور،
د گونگټې په څېر
د پښو لاندې زموږ د چخپیتولو؟
تا ورکړی دستور،
چې جوړ په تن مو کړې
د موزو د لغتو باران؟
چې جوړ په خولو مو کړې
د موزو د لغتو باران؟

که له واکمنه وپوښتو
چې چا کړی په دې دنیا
زموږ د چارو استازی؟
راته وایي:
نه پوهېږئ تاسې جاهلان
چې زه د خدای له یارانو یم؟!

غواړم کوکې کړم:
لویه خدایه! تا کړ د اقتصاد وزیر منصوب؟
نو بیا ولې رسېدلي بېوزلي تر وروستې کچې؟
نو بیا ولې رسېدلی زغم تر وروستې کچې؟
نو بیا ولې حالات مو بد شوي؟
اصلي خواږه مو د ډېران شوي؟
ان مرغۍ نه مومي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې ټاټوبي په ډېران څه؟

لويه خدايه!
د ډوډۍ ګرانېدل ستا دی امر؟
د لوبيا، د نخودو ګرانېدل ستا دی امر؟
د سبوو، د ترشۍ ګرانېدل ستا دی امر؟
د مرګ د کفن ګرانېدل ستا دی امر؟

لويه خدايه!
ولې موږ ځپلی خورو
چاړواکي خوري کباب؟
ولې قوماندانان څښي ويسکي؟
موږ څښو چکړې، خټې؟
ولې زموږ په ټاټوبي کې بېوزله انسانان
نشي کړای توپير
د ډوډۍ مخ د سپوږمۍ له مخه؟!
ولې ماشومان مو کوي
د ميندو په نسو کې ځانوژنه؟!

لويه خدايه!
غواړم وپوښتم،
تا دي ورزده کړي،
چې تطهير مو ماغزه کړي؟
مېرمنې راله په مينځو کړي بدلې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

راباندې شي سپاره پر ځای د خرو
پر ځای د آسو؟!

لویه خدایه!
غواړم وپوښتم
تا دی ورکړی دستور،
چې مات مو کړي هډوکي
مات مو کړي ملا د قلمونو؟
منعه کړي کر د ګلونو په باغونو؟

لویه خدایه!
غواړم وپوښتم
تا ورکړې شتمني ده،
چې د ورسا او بریتانیا ماڼۍ
د بابل معلق باغونه وپېري؟
مزدورې ورځپاڼې وپېري؟

لویه خدایه!
تا ورکړی سپین چک،
چې د بریتانیې تاج او ماڼۍ وپېري؟
د نیشابور په اسمان ، شنه رنګه سپوږمۍ وپېري؟
د کوترو په څېر کړې بندې مېرمنې په قفسو کې؟

لویه خدایه!
غواړم وپوښتم

(c) ketabton.com: The Digital Library

په رښتیا یې ته،
عزیز د دې واکمنانو؟
آیا قاتلان د ملت
ستا عزیزان کېدای شي؟؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مړينه

چېرې لاړ شي د وطن مړي
کله چې ټوله شتمني
له بنفشه غوړو سره
د جمهور رئيس د خېټې،
د سيني، د ملا د مساژ لپاره وي
جلا
يا جلا وي
هغوی ته چې ورکوي جامونه د شيدو
جمهور رئيس ته په لاس

چېرې لاړ شي هغه مړي
چې ولېدل په ځمکې
د جمهور رئيس په جګړو کې
او اوس د مېشتېدنې ځی نلري.

که مو مړينه وای
د ستر هدف په لور
که مو مړينه وای
د خلکو، د وطن د آزادۍ په لور

(c) ketabton.com: The Digital Library

په خندا رهېدلم
د مرگ په لور
که مو مړینه وای
د عزتمنې مېړانې په لور
د مومنانو د جنت په لور
له ټولو وړاندې رهېدلم
د مرگ په لور

خو کړې یې ده د ټولو د مرگ پرېکړه
چې ورپاتې دا نظام شي
چې ورپاتې شگلینې مجسمې
د نظام د ماماگانو شي

اغېزه نلري پر رهبر مو
د میلیونونو انسانانو مړینه
نه یې رپېږي ان یو ویښته
د میلیونو انسانانو په مړینه
نه پوهیدمه چې ظالمان کوي
د حساب له ماشینه نفرتونه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**